دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعدلیې وزارت

رسمي جریده

فوق العاده ګڼه

- د نفـــــــت او ګـــــــاز (هایدروکاربونونو) قانون
- د کانونو قانون
- قـــاون نفـــت و ګـــاز (هایدروکاربن ها)
- قانون معادن

د خپریدو نېټه:د ۱۳۸۷ هـــ .ش کال د سلواغې د میاشتې (۲۰)
پرله پسې نمبر: (۹۷۲)

تاریخ نشر : (۲۰) دلو سال ۱۳۸۷ هـــ . ش
نمبر مسلسل: (۹۷۲)

در این شماره :

۱- فرمان شماره(۱۵۱) مؤرخ ۱۳۸۷/۱۱/۵ رئیس ج.ا.ا در بارهٔ توشیح قانون نفت و گاز (هایدروکاربن ها).

- قانون نفت و گاز (هایدروکاربن ها) از صفحه (۱-۸۵).

۲- فرمان شماره (۱۵۳) مؤرخ ۱۳۸۷/۱۱/۱۲ رئیس ج.ا.ا در بارهٔ توشیح قانون معادن.

- قانون معادن از صفحه ۸٦- ۲۷۱).

د امتیاز خاوند: دعدلیې وزارت

وب سایت : www.moj.gov.af

مسئول چلوونکی : حیدر "محقق"
۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸

د دفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵

مرستیال: نور علم
۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمم: محمد جان
۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

قیمت این شماره : (۱۲۰) افغاني

تیراژ چاپ اول: (۴۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات، چهارراهي پشتونستان، کابل

د نفتو او ګاز (هایدروکاربونونو) د قانون د توشیح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

گڼه: (۱۵۱)
نېټه: ۱۳۸۷/۱۱/۵

لومړۍ ماده:
دافغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د (۱٦) فقرې او سلمې مادې د حکم له مخې د نفتو او ګاز (هایدروکاربونونو) قانون چې د ملي شوري د ګډ هیئت د ۱۳۸۷/۸/۲۸ (۱۱۲) ګڼې فیصلې پربنسټ په اوو فصلونو او یواویا مادو کې تصویب شوی دی، توشیح کوم.

فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان دربارهٔ توشیح قانون نفت و گاز (هایدروکاربن ها)

شماره: (۱۵۱)
تاریخ: ۱۳۸۷/۱۱/۵

مادهٔ اول:
به تأسی ازحکم فقرهٔ (۱٦) مادهٔ شصت و چهارم وماده صدم قانون اساسی افغانستان، قانون نفت و گاز(هایدروکاربن ها) را که به اساس فیصله (۱۱۲) مؤرخ ۱۳۸۷/۸/۲۸ هیئت مختلط شورای ملی به داخل هفت فصل و هفتاد ویک ماده به تصویب رسیده، توشیح می دارم.

دوه یمه ماده:

دغه فرمان د توشیح له نیټې څخه نافذ او له فیصلې او قانون سره یوځاي دې په رسمي جریده کې خپور شي.

مادۀ دوم:

این فرمان ازتاریخ توشیح نافذ وهمراه با فیصله وقانون درجریدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
دافغانستان داسلامي جمهوریت
رئیس

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی
افغانستان

د افغانستان ملي شوري

مصوبه

د نفتو او ګاز

(هايدروکاربونونو) قانون

ګڼه : (۱۱۲)

نېټه : ۱۳۸۷/۸/۲۸

د اساسي قانون د سلمې مادې د حکم پربنسټ، د ملي شوري ګډ هيئت (هرى جرګې له پنځو پنځو غړو جوړ) د نفت او ګاز (هايدروکاربونونو) قانون په (۷) فصلونو او (۷۱) مادو کې د ۱۳۸۷ کال د لړم د مياشتې په ۲۸ نېټه تصويب کړ.

د ګډ هيئت رئيس

باختر امين زى

د ګډ هيئت مرستيال

فيض الله ذکى

شورای ملی افغانستان

مصوبه

قانون نفت وگاز

(هایدروکاربن ها)

شماره : (۱۱۲)

تاریخ: ۱۳۸۷/۸/۲۸

مطابق حکم مادۀ صدم قانون اساسی، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی مرکب (پنج پنج عضو از هر جرگه) قانون نفت وگاز (هایدروکاربن ها) را به تاریخ ۲۸ ماه عقرب سال ۱۳۸۷ در (۷) فصل و (۷۱) ماده تصویب نمود.

رئیس هیئت مختلط

باختر امین زی

معاون هیئت مختلط

فیض الله ذکی

فهرست مندرجات قانون نفت وگاز(هایدروکاربن ها)

فصل اول

احکام عمومی

ماده	عنوان	صفحه
مادۀ اول:	مبنی.....	۱
مادۀ دوم:	اصطلاحات.....	۱
مادۀ سوم:	مالکیت نفت وگاز	۱۰
مادۀ چهارم:	کمیسیون وزراء.....	۱۱

فصل دوم

وظایف وصلاحیت های وزارت معادن

مادۀ پنجم:	وظایف وصلاحیت ها.....	۱۳
مادۀ ششم:	ثبت نفت وگاز.....	۱۸
مادۀهفتم:	دسترسی عامه به ثبت نفت وگاز.....	۲۰
مادۀهشتم:	بانک اطلاعات نفت وگاز.....	۲۱
مادۀ نهم:	استفاده ازبانک اطلاعات نفت وگاز.....	۲۲
مادۀ دهم:	ارائه معلومات به دفاترولایتی.....	۲۲

فصل سوم

ساحات عملیات وحقوق سطح زمین

مادهٔ یازدهم: طرزتصرف واستفاده اززمین دولتی.....۲۳
مادهٔ دوازدهم: طرزتصرف واستفاده اززمین شخصی..... ۲۴
مادهٔ سیزدهم : حق داشتن راه عبوری..... ۲۵
مادهٔ چهاردهم: جبران خساره به متضرر..... ۲۶
مادهٔ پانزدهم: ساحات مقیده..... ۲۷
مادهٔشانزدهم: اخذاجازه عملیات بالای ملکیت شخصی..... ۲۹
مادهٔ هفدهم : ساحات بسته عملیات نفت وگاز..... ۳۰
مادهٔ هجدهم: اعطای جوازنامه منرالی درساحه عملیات نفت وگاز..... ۳۱
مادهٔ نزدهم: کشف مواد معدنی..... ۳۲
مادهٔ بیستم: کشف آثارتاریخی وفرهنگی..... ۳۲
مادهٔ بیست ویکم: اصول اساسی عملیات نفت وگاز..... ۳۴
مادهٔ بیست ودوم: هیئت ارزیابی قراردادها..... ۳۵

فصل چهارم

قرارداد عملیات نفت وگاز

مادهٔبیست وسوم: انواع قرارداد ۳۶
مادهٔ بیست وچهارم: قرارداد اکتشاف وتقسیم تولید..... ۳۶

مادهٔ بیست وپنجم: قرارداد انجام خدمت وتقسیم تولید..... ۳۷
مادهٔبیست وششم: قراردادخدمات جیولوجیکی،جیوفزیکی وجیوشیمیکی.....۳۸
مادهٔبیست وهفتم: قرارداد عملیات پایپ لاین ۳۸
مادهٔبیست وهشتم: مکلفیت های قراردادی..... ۳۹
مادهٔ بیست ونهم: استخدام سایر قراردادی ها..... ۳۹
مادهٔ سی ام: داوطلبی قراردادی ۴۰
مادهٔ سی و یکم: دعوت داوطلبان..... ۴۱
مادهٔ سی ودوم: مطالبه اسناد ۴۲
مادهٔ سی وسوم: شرایط عقد قرارداد.....۴۲
مادهٔ سی وچهارم: شرایط کسب جواز عملیات نفت و گاز.....۴۲
مادهٔ سی و پنجم: تقسیمات بلاکی.....۴۵
مادهٔ سی وششم: تعیین ساحه.....۴۶
مادهٔ سی وهفتم: واگذاری ساحه قرارداد اکتشافی.....۴۶
مادهٔ سی وهشتم: میعاد قرارداد.....۴۷
مادهٔ سی ونهم: فسخ قرارداد.....۴۸
مادهٔ چهلم: انجام فعالیت ها در ساحات قرارداد.....۴۹
مادهٔ چهل و یکم: انتقال و ذخیره.....۵۱
مادهٔ چهل ودوم: استخدام متخصصین.....۵۱
مادهٔ چهل وسوم: مکلفیت قراردادی.....۵۲
مادهٔ چهل وچهارم: اقدامات دولت در رابطه به رسیدگی شکایات.....۵۶

مادهٔ چهل وپنجم: شرایط عملیات صنایع نفت و گاز (هایدورکاربن ها).....۵۷
مادهٔ چهل وششم: پاکسازی ساحه.....۵۸
مادهٔ چهل وهفتم: استخدام کارگران.....۵۸
مادهٔ چهل وهشتم: تدارک اموال و خدمات داخلی ۵۹
مادهٔ چهل ونهم: تعیین وکیل یا نماینده.....۵۹
مادهٔ پنجاهم: تهیه مواد نفت و گاز به دولت.....۶۰
مادهٔ پنجاه ویکم: انتقال امتیاز قرارداد.....۶۱
مادهٔ پنجاه ودوم: مطالب منضمهٔ مندرج برنامهٔ انکشافی پیشنهادی.....۶۱
مادهٔ پنجاه وسوم: رعایت دساتیر وضع شده.....۶۳
مادهٔ پنجاه وچهارم: پلان صحی و تحفظی.....۶۴
مادهٔ پنجاه وپنجم: اطلاع از حادثه..... .....۶۴

مادهٔ پنجاه وششم: دیپارتمنت حفاظت محیط زیست ۶۵
مادهٔ پنجاه وهفتم: ایجاد توافق.....۶۶
مادهٔ پنجاه وهشتم: قراردادی های خدمات جیولوژیکی، جیو فزیکی و جیوشیمیکی (قرارداد ونوع سوم).....۶۷
مادهٔ پنجاه ونهم: مالکیت معلومات.....۶۸

فصل پنجم
پایپ لاین

مادۀشصتم : شرایط اعماروعملیات پایپ لاین.....۷۰
مادۀ شصت ویکم: شرایط وحق الاجرت ترانسپورتی....۷۱

فصل ششم
مالیات برعایدات نفت وگاز

مادۀ شصت ودوم: امورحسابی ۷۲
مادۀ شصت وسوم: پرداخت مالیات..... ۷۳
مادۀ شصت و چهارم: حق الامتیاز رویالتی ها.....۷۳
مادۀ شصت و پنجم: حق الاجاره سطح زمین ۷۴

فصل هفتم
احکام نهایی

مادۀ شصت وششم تخلفات.....۷۵
مادۀ شصت وهفتم: انتقال اسعار.....۷۸
مادۀ شصت وهشتم: استملاک.....۸۰
مادۀ شصت ونهم: منع تطمیع کارکنان دولت.....۸۱
مادۀ هفتادم: حل اختلافات.....۸۲
مادۀ هفتاد و یکم: تاریخ انفاذ.....۸۵

۱۳۸۷/۱۱/۲۰ رسمي جريده مسلسل نمبر (۹۷۲)

بسم الله الرحمن الرحيم

دنفتو او ګاز (هايدروکاربونونو)قانون

لومړی فصل

عمومي حکمونه

مبنيٰ

لومړی ماده:

دغه قانون د افغانستان داساسي قانون د نهمې مادې دحکم له مخې پرنفتواوګاز (هايدروکاربونونو) باندې د دولت دمالکيت اوکنترول دتثبيت، دنفتو اوګاز د ساتنې، ګټې اخيستنې، د اجارې دامتياز دورکولو، د قراردادونود عقدولو، د تفحصاتي فعاليت د ډول، پرمختيا او توليد د اړوندو چارو دتنظيم په منظور وضع شوی دی.

اصطلاحګانې

دوه يمه ماده:

دغه اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندې مفاهيم افاده کوي:

قانون نفت وگاز (هايدروکاربن ها)

فصل اول

احکام عمومی

مبنی

مادۀ اول :

این قانون به تأسی از حکم مادۀ نهم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به تثبیت مالکیت و کنترول دولت برنفت وگاز(هایدروکاربن ها)، محافظت،استفاده، اعطای امتیاز اجاره، عقد قراردادها، طرز فعالیت تفحصاتی،انکشاف و تولید نفت وگاز وضع گردیده است.

اصطلاحات

مادۀ دوم:

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱–نفت او ګاز(هایدروکاربونونه):له مایع (اوبلنو) هایدروکاربونونو او طبیعي ګاز څخه عبارت دی.

۲– د نفتـــــو اوګازعملیـــــات (دهایدروکاربونونوعملیات): دنفتو اوګـــاز (هایـــدروکاربونونو) پـــه تفحص اواکتـــشاف، اســـتخراج، تولید، ساحوي بېلوني، لېږدونـــي، زېرمه کوني، پلورني پورې اړونـــد فعالیتونه دي. دنفتواو ګاز لېږدیـــز فعالیتونه له پولو څخه له وتلو یا په فابریکو کې دمایع کولواودپروسس چاڼځای ته له تسلیمولو وروســـته دصادراتو په ګډون په دغو عملیاتو کې شامل ندي.

۳– مـــایع هایدروکاربونونـــه: د دروندوالي (ثقلت) له په پام کـــې نیولوپرته اومـــه نفت،اســـفالت او طبیعي قیر چې دڅاه په خوله کې په مایع یا جامد ډول ترمحیطي شرایطو (فشار او تودوخې) لاندې لاس تـــه راځي یا دانقبـــاض (کاندنسېـــشن)

۱– نفت وگاز(هایدروکاربن هـــا): عبارت از هایدروکاربن های مایع و گاز طبیعی می باشد.

۲– عملیات نفت وگاز(عملیـــات هایـــدروکاربن هـــا):فعالیـــت مربوط به تفحـــص و اکتـــشاف، استخراج،تولید،جداسازی ساحوی، انتقال،ذخیره سازی وفروش نفت و گاز (هایدروکاربن ها) می باشد. فعالیت های انتقالاتی نفت وگـــاز اعم از صادرات بعد از خارج شدن از سرحدات یا تسلیم دهـــی بـــه تصفیه خانه مایع سازی وپروســـس در فابریکـــات شـــامل ایـــن عملیات نمی باشد.

۳– هایدروکاربن های مایع: نفت خام،اسفالت وقیرطبیعـــی بـــدون نظرداشـــت ثقلـــت کـــه در دهانـــهٔ چـــاه بـــه صـــورت مایع یاجامد تحت شرایط محیطـــی (فشار وحرارت) بدســـت آمـــده ویـــا از گـــازطبیعی در اثـــر

(Condensation)د عملیې له امله لــه طبیعــي ګــاز څخــه استخراجېږي.

۴- طبیعي ګاز: هغه هایدروکاربن دی چې د تودوخې او فــشار پــه ځانګړو اتومسفیري شرایطو کې د ګاز په حالت پیداکېږي اووچ ګاز،د ډبرو له سکرو څخه لاسته راغلــی میتان ګاز، لومــد ګــاز او غیــر هایدروکاربوني ګازونه پکې شــامل دي له اســتخراج او لــه لامــدۀ ګاز څخه د مایع نفت او ګاز لــه پروســس او بېلــونې وروســته بــاقي پــاتې ګــاز همدارنګــه هغه ګــاز چــې لــه اســتخراج، له لامــدۀ ګــاز څخــه د مــایع هایــدروکاربن لــه بیلــونې او د انقباض له عملیې وروسته بــاقي پاتې کېږي هم په هغۀ کې شــامل دی. مایع هایدروکاربن اســتخراج شوی یا منقبض شوی پدې تعریــف کې شامل ندی.

عملیــه انقبــاض (کاندنسیــشن Condensation) اســتخراج می گردد.

۴-گــازطبیعی:هایــدروکاربن اســت کــه در شــرایط خــاص اتموســفیری حــرارت وفــشار به حالــت گــاز پیــدا گردیــده وشــامل گــاز خــشک، گاز میتان حاصله از ذغال سنگ، گــاز تــر، و گــازات غیــر هایــدروکاربنی اســت. گــاز باقی مانده بعــد از استــخراج ، پروسس وجداسازی نفت وگــاز مایع از گازتر، همچنــان گــازی که بعد از استخراج، جداســازی هایــدروکاربن مــایع از گــاز تــر و از عملیــه انقبــاض بــاقی مــی مانــد نیــز شــامل آن اســت. هایــدروکاربن مــایع اســتخراج شــده یــا منقبض شده شامل ایــن تعریــف نمی باشد.

۵- ثبت: د نفتو او ګاز دعملیاتو د رپوټونو او سندونو له ثبت څخه عبارت دی چې ددې قانون د شپږمې مادې مطابق، ثبتېږي.

۶- شخص عبارت له:

۱- کورنی حقیقي شخص: هغه شخص دی چې د افغانستان د تابعیت لرونکی وي.

۲- کورنی حکمي شخص: د مؤسسې، شرکت، انحصاري مالکیت، محدودالمسؤولیت شرکت، مؤقت مشارکت، مؤقتې پانګې اچونې، خاصو یا عامو سهامي شرکتونو او اتحادیې یا هرې بلې انتفاعي مؤسسې په ډول شخص دی چې د قانون د حکمونو مطابق تأسیس شوی وي.

۳- بهرنی حقیقي شخص: هغه شخص دی چې د افغانستان له تابعیت پرته د تابعیت لرونکی وي.

۴- بهرنی حکمي شخص : هغه شخص دی چې حقوقي شخصیت

۵-ثبت:عبارت از ثبت راپورها و اسناد عملیات نقت و گازمی باشد، که طبق مادهٔ ششم این قانون ایجاد گردیده است.

۶- شخص عبارت از:

۱- شخص حقیقی داخلی:شخصی است که دارای تابعیت افغانستان باشد.

۲- شخص حکمی داخلی : شخصی است که به شکل مؤسسه، شرکت، مالکیت انحصاری، شرکت محدود المسؤولیت ، مشارکت مؤقت، سرمایه گذاری مؤقت، شرکت های سهامی خاص یاعام و اتحادیه یا هرنوع مؤسسه دیگرانتفاعی که مطابق احکام قانون تأسیس گردیده باشد.

۳- شخص حقیقی خارجی : شخصی است که تابعیت غیر از تابعیت افغانستان را داشته باشد.

۴- شخص حکمی خارجی : شخصی است که شخصیت

يې په بهرنيو قوانينو کې مشخص شوی وي.

۷- سوداګريز کشف: هغه کشف دی چې د عقد شوي قرارداد د موادو مطابق دنفتو اوګاز د صنعت له نړيوالو منل شوو تجربو سره په مطابقت کې، په سوداګريز ډول ترګټې اخستنې لاندې ونيولی شي.

۸- قرارداد: د دولت او قراردادي ترمنځ هغه ليکلی موافقتنامه ده چې د نفتو او ګاز د عملياتو د سرته رسولو په منظور دقانون دحکمونو مطابق، عقد کېږي.

۹- اصلي قراردادي: هغه شخص دی چې د قانون د حکمونو مطابق له هغۀ سره د قرارداد عقدول صورت مومي.

۱۰- د اکتشاف پړاو: د قانون د حکمونو مطابق د اکتشاف اود توليد د وېش د قرارداد لومړی پړاو دی.

حقوقی وی در قوانين خارجی مشخص شده باشد.

۷-کشف تجارتی : کشفی است که طبق مواد قرارداد منعقده درمطابقت با تجارب قبول شده بين المللی صنعت نفت وگاز به شکل تجارتی مورد بهره برداری قرارگرفته بتواند.

۸- قرارداد: موافقتنامۀ کتبی ميان دولت و قراردادی است که به منظور انجام عمليات نفت وگاز مطابق احکام قانون عقد می گردد.

۹- قراردادی اصلی: شخصی است که طبق احکام قانون با وی عقد قرارداد صورت می گيرد.

۱۰- مرحله اکتشاف: مرحله نخست قرارداد اکتشاف و تقسيم توليد مطابق احکام اين قانون می باشد.

۱۱- پرمختيايي، توليدي پړاو: د اکتشاف اود توليد د وېش د قرارداد دوه يم پړاو دی چې په بهر کې يې قراردادي کشف يا سوداګريزو کشفونو ته پرمختيا ورکوي اود استخراج عمليه سرته رسوي.

۱۱- مرحله انکشافی، توليدی: مرحلهٔ دوم قرارداد اکتشاف و تقسيم توليد می باشد که در جريان آن قراردادی کشف يا کشف های تجارتی را انکشاف داده و به عمليه استخراج می پردازد.

۱۲- پرمختيايي برنامه: دهر ډول سوداګريز کشف لپاره پرمختيايي او توليدي پلان دی چې د کانونو وزارت له منظوری وروسته ددې قانون اود نفتو او ګاز (هايدروکاربونونو) دمقررې د حکمونو مطابق، عملي کېږي.

۱۲- برنامه انکشافی: پلان انکشافی و توليدی برای هر نوع کشف تجارتی است که بعد از منظوری وزارت معادن مطابق احکام اين قانون ومقررهٔنفت و گاز (هايدروکاربن ها) عملی می گردد.

۱۳- د قرردادساحه: په قرارداد کې درج شوې جغرافيايي محدوده ده چې ټولې ساحې يا د قرارداد برخه يا اصلي برخې په بر کې نيسي او عندالموقع د قرار داد د شرايطو مطابق د قرار دادي په واک کې ورکول کېږي.

۱۳- ساحهٔ قرارداد:محدودهٔ جغرافيائی مندرج قرارداد بوده که همه ساحات يا بخش ويا بخش های اصلی قرارداد را دربرگرفته و عندالموقع طبق شرايط قرارداد به دسترس قراردادی گذاشته می شود.

۱۴- د تفحص قرارداد: هغه

۱۴-قرارداد تفحص: قرارداد

قرارداد دی چې په قرارداد کې د درج شوو شرایطو مطابق، په ټاکلې ساحه کې د اکتشاف، یاد پرمختیا پر حق او د نفتو اوګاز پر تولید باندې قراردادي ته انحصاري حق مشخصوي.

۱۵- د تفحص پړاو: د اکتشافي قرارداد وخت موده ده چې په دوو اکتشافي او پرمختیایي تولیدي پړاوونو وېشل کېږي.

۱٦- پرمختیایي تولیدي ساحه: د قرارداد ساحه ده چې یو یا څو بلاکه احتواً کوي یا د خدمت د ساحې جغرافیایي محدوده مشخصوي.

۱۷-دنفتو اوګاز (هایدرو کاربونونو)اطلاعاتي بانک: د نفتو اوګاز د تفحصي او تولیدي معلوماتو راټولولو اداره کول دي. چې ددې قانون د حکمونو مطابق ساتل او خوندي کېږي.

۱۸- جوازلیک (لایسنس): هغه

است که حق انحصاری براکتشاف یاحق انکشاف و تولید نفت وگاز را درساحهٔ معینه طبق شرایط مندرج قرارداد برای قراردادی مشخص می سازد.

۱۵-مرحلهٔ تفحص: مدت زمان قرارداداکتشافی است که به دومرحلهٔ اکتشافی وانکشافی تولیدی تقسیم می شود.

۱٦- ساحهٔ انکشافی تولیدی: ساحهٔ قرارداد است که یک یاچندبلاک را احتوا نموده یا محدودهٔ جغرافیائی ساحهٔ خدمت را مشخص می سازد.

۱۷-بانک اطلاعاتی نفت وگاز(هایدروکاربن ها): ادارهٔ جمع آوری یا معلومات تفحصی وتولید نفت و گاز است که مطابق احکام این قانون، حفظ ونگهداری می شود.

۱۸-جوازنامهٔ (لایسنس):سندی

سند دی چې ددې قانون د حکمونو مطـــابق، د نفتـــو او ګـــاز (هایدروکاربونونو) د عملیـــاتو پـــه منظور ورکول کېږي.

۱۹- وچ ګاز: هایـــدروکاربن دی چې غالباً یوازې له میتـــان څخـــه تشکیل شوی دی.

۲۰- لومد ګاز: هایدروکاربن دی چې پر میتان برسېره د ایتان، پروپان او بیوتان په شان درنو مرکباتو څخه تشکیل شوي دي.

۲۱- غیر هایدروکاربن ګازونـــه: مهم غیر هایدروکاربني ګازونـــه، د نفتو په صفت کې له کـــاربن دای اکساید او هایـــدروکاربن ســـلفاید څخه عبـــارت دي او همدارنګـــه رادیم، کرپټون، آرګون، هېلیم او نایتروجن ګازونه پکې شامل دي چې په لږ مقدار په حفاري څاګانو کې له هایدروکاربني ګازونو او اومو نفتو سره پیدا کېږي.

۲۲- د وزیرانـــو کمېـــسیون : است که به منظورعملیات نفـــت وگـــاز(هایـــدروکاربن هـــا) مطـــابق احکـــام ایـــن قـــانون اعطاء می گردد.

۱۹-گـــاز خـــشک: گـــاز هایدروکاربنی است که غالبـــاً از میتان تشکیل شده است.

۲۰- گاز تر: هایدروکاربن است که علاوه بر میتـــان از مرکبـــات سنگین تر مانند ایتـــان، پروپـــان و بیوتان تشکیل شده است.

۲۱- گازات غیر هایدروکاربنی: گـــازات غیـــر هایـــدروکاربنی مهم در صنعت نفـــت عبـــارت از کاربن دای اکساید و هایـــدروجن سلفاید می باشـــد. هـــم چنـــان شامل گازات رادیـــم، کریپتـــون، آرگون، هیلیم و نایتروجن اســـت که به مقدار کم در چـــاه هـــای حفاری با گازات هایـــدروکاربنی ونفت خام یافت می شوند.

۲۲- کمیسیون وزراء: کمیسیون

کمېسیون له هغو وزیرانو څخه چې ددې قانون په څلورمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق د نفتو او ګاز عملیاتو د رسیدګۍ په منظورجوړېږي.

۲۳- د قراردادونو د ارزونې هیئت: د هایدروکاربونونو د عملیاتو د قراردادونو د ارزونې لپاره د کانونو وزارت او اړوندو وزارتونو له ګډ هیئت څخه عبارت دی.

۲۴- آفر: له هغهٔ سند څخه عبارت دی چې د نفتو او ګاز د عملیاتو د جواز د ترلاسه کولو لپاره، د داوطلب د وړاندیز شوو شرایطو لرونکی دی.

۲۵- فرعي قراردادي:له هغهٔ قراردادي څخه عبارت دی چې له اصلي قراردادي سره یې قرارداد عقد کړی وي، دنفتو اوګاز په عملیاتو پورې اړوندکار یاخدمت سرته رسوي.

د نفتو او ګاز مالکیت

مرکب از وزرایی است که به منظور رسیدگی به عملیات هایدروکاربن ها مطابق حکم مندرج ماده چهارم این قانون تشکیل می گردد.

۲۳- هیئت ارزیابی قراردادها: عبارت از هیئت مشترک وزارت معادن و وزارت های ذیربط جهت ارزیابی قراردادهای عملیات هایدروکاربن ها می باشد.

۲۴- آفر: عبارت از سندی است که حاوی شرایط پیشنهاد داوطلب برای کسب جواز عملیات نفت وگاز می باشد.

۲۵- قرردادی فرعی: عبارت از قراردادی است که با قراردادی اصل عقد قرارداد نموده، کار یا خدمات مربوط به عملیات نفت وگاز را انجام می دهد.

مالکیت نفت وگاز

دریمه ماده:

(۱)دهېوادپه قلمروکـــې دځمکـــې پرمخ(سطحه)یـــاژوره کـــې ټـــول موجودنفت اوګاز (هایدروکاربونونه) د قانون د حکمونو مطابق ، د دولت خاص ملکیت دی.

(۲) په هېواد کې د نفتـــو او ګـــاز عملیات د دولت په اجازه صورت مومي. شخص کولای شي دجـــواز لیک پربنسټ ددې قانون د حکمونو مطابق، د نفتو اوګاز عملیات سرته ورسوي.

(۳) په لومړي ډول او دوه یم ډول قراردادونو کـــې، قـــراردادي پـــه قرارداد کې د درج شوو مندرجاتو مطابق، د استخراج شوو نفتو او ګاز د خپلي ونډې د ترلاســـه کولـــو مستحق دی او د هغو د تـــصرف، پلورنې او صادرولو حق لري.

(۴) د کانونو وزارت پدې قـــانون کې د نفتو اوګاز دعملیـــاتو د درج شوي جواز لیک د ورکولو واکمنه

مادۀ سوم:

(۱) تمام نفت و گاز (هایدروکاربن هـــا)موجـــود در ســـطح زمـــین یـــاعمق آن در قلمـــرو کـــشور، ملکیـــــت خـــــاص دولـــــت می باشد .

(۲)عملیات نفت وگاز در کشور به اجازه دولت صورت می گیرد. شخص مـــی توانـــد بـــه اســـاس جوازنامه ،عملیات نفـــت وگـــاز را مطـــابق احکـــام ایـــن قـــانون انجام دهد.

(۳) در قراردادهای نـــوع اول و دوم، قراردادی مستحق دریافـــت سهم خـــویش از نفـــت و گـــاز استخراج شدۀ طبـــق منـــدرجات قـــرارداد مـــی باشـــد وحـــق تـــصرف، فـــروش و صـــدور آنرا دارد.

(۴) وزارت معـــــادن مرجـــــع باصلاحیت اعطاء جوازنامۀ عملیات نفت وگازمنـــدرج ایـــن قـــانون

مرجع ده.

(۵) که چېرې د شخص په ملکیت ځمکه کې دځمکې پرمخ یا تر ځمکې لاندې د نفتو او ګاز زېرمې کشف شي، دولت دقانون دحکمونو مطابق، د بحث وړ ساحې ځمکه استملاک کوي. خو داچې د ځمکې مالک ددې قانون د حکمونو مطابق، د نفتو او ګاز دعملیاتو جواز لاسته راوړي.

د وزیرانو کمېسیون

څلورمه ماده:

(۱) د نفتو اوګاز په څېړنې، څارنې پورې د اړوندو چارو، د قراردادونو د تأیید او رد او د هغو د نورو مربوطو چارو د تنظیم په منظور، په لاندې ترکیب سره د وزیرانو کمېسیون جوړېږي:

۱- د کانونو وزیر درئیس په توګه.

۲- دمالیې وزیر دمرستیال په توګه.

۳- د بهرنیو چارو وزیر د غړي په توګه.

می باشد.

(۵) هرگاه در زمین ملکیت شخص، ذخایر نفت وگاز در سطح زمین یا زیر زمین کشف شود، دولت زمین ساحه مورد بحث را طبق احکام قانون استملاک می نماید مگر اینکه مالک زمین مطابق احکام این قانون جواز عملیات نفت وگاز را بدست آورد.

کمیسیون وزرأ

مادۀ چهارم :

(۱) به منظور تنظیم امور مربوط به بررسی، نظارت، تائید و رد قراردادهای نفت وگاز وسایر امور مربوط آن،کمیسیون وزرأ به ترکیب ذیل ایجاد می گردد :

۱- وزیر معادن به حیث رئیس .

۲- وزیر مالیه به حیث معاون.

۳- وزیر امورخارجه به حیث عضوء .

۴- داقتصاد وزير د غړي په توګه.

۵-دسوداګرۍ او صنايعو وزير دغړي په توګه.

٦- د ژوند چاپيريال ساتنې د ملي ادارې رئيس د غړي په توګه.

(۲)حکومت کولای شي عند- الضرورت نورغړي دوزيرانو دکمېسيون په ترکيب کې شامل کړي.

(۳) د وزيرانو کمېسيون د لاندې واکونو لرونکی ده:

۱- دقرارداد د داوطلبۍ او سپارلو له بهير څخه څارنه.

۲-دکانو وزارت په واسطه د ترتيب شوو قراردادونو دطرح ارزونه.

۳- ددې قانون د حکمونو مطابق، دکانونو د وزير په واسطه د قراردادونو د عقد په هکله، تصميم نيول.

۴- د نورو اړوندو مسئلو تأييدول چې د وزيرانو شوري تصويبولو ته اړتيا ولري.

دوه يم فصل

۴- وزير اقتصاد به حيث عضوء.

۵- وزير تجارت وصنايع به حيث عضوء.

٦-رئيس اداره ملی حفاظت محيط زيست به حيث عضوء.

(۲)حکومت می تواندعندالضرورت اعضای ديگر را در ترکيب کميسيون وزراء شامل نمايد.

(۳) کميسيون وزرأ دارای صلاحيت های ذيل می باشد :

۱- نظارت از جريان داوطلبی و تفويض قرارداد.

۲- ارزيابی طرح قراردادهای ترتيب شده توسط وزارت معادن.

۳- تصميم گيری در مورد عقد قراردادها توسط وزير معادن مطابق احکام اين قانون.

۴- تائيد ساير مسايل ذيربط که نياز به تصويب شورای وزيران داشته باشد.

فصل دوم

دکانونو د وزارت دندې او واکونه

دندې او واکونه

پنځمه ماده:

د کانونو وزارت ددې قانون د حکمونو د تطبیق په منظور، د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- دنفتو اوګاز او پدې ډګر کې د خصوصي پانګې اچونې په رواجولو پورې د اړوندې پالیسۍ په شمول د هغو د پرمختیا د مربوطو پالیسیو طرح او تطبیقول.

۲- د وزیرانو کمېسیون ته د نفتو اوګاز دعملیاتو لپاره دتړل شوې یا منع شوې ساحې په توګه دتصنیف ، له تصنیف څخه دایستلو یا دساحو ددوباره تصنیف دتصویب وړاندیز.

۳- د نفتو او ګاز پر هغو عملیاتو څارنه او څېړنه چې د دولتي ادارو یا نورو مؤسسو قراردادیانو په واسطه تر سره کېږي.

وظایف وصلاحیت های وزارت معادن

وظایف وصلاحیت ها

مادۀ پنجم:

وزارت معادن به منظور تطبیق احکام این قانون دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱-طرح وتطبیق پالیسی های مربوط به نفت وگاز وانکشاف آنها به شمول پالیسی مربوط به ترویج سرمایه گذاری خصوصی در این عرصه.

۲-پیشنهادتصویب تصنیف، ازتصنیف خارج کردن یا تصنیف دوبارۀ ساحات به حیث ساحۀ بسته یا ممنوعه برای عملیات نفت وگاز به کمیسیون وزراء.

۳-نظارت ورسیدگی بر عملیات نفت و گاز که توسط ادارات دولتی یا سایر مؤسسات وقراردادی ها انجام داده می شود.

۴- د قانون د حکمونو مطابق، دداوطلبۍ په غونډو کې د اشخاصو دګډون په اړه، د غوښتنليکونو تنظيمول.

۵- له نورو اشخاصوسره د نفتو اوګاز دعملياتو د قرارداد عقدول او د وزيرانو کمېسيون ته دهغو د تصويبولو وړانديز.

۶- په قرارداد کې ددرج شوو شرايطو له عملي کېدو څخه څارنه اودهغوله سرته رسېدوڅخه تصديق.

۷- دوزيرانو دکمېسيون د تصويب مطابق،دقراردادي دفعاليت درول او دقراردادونو فسخ يا لېږدول.

۸- د ځمکې له سطح څخه دګټې اخستنې دحق الاجارې داندازې ټاکل او د هغو له راټولولو څخه ډاډ تر لاسه کول .

۹- د لومړي ډول او دوه يم ډول قراردادونو د داوطلبۍ د پيل په منظور د هايدروکاربونونو د

۴- تنظيم درخواستی ها مبنی براشتراک اشخاص درمجالس داوطلبی مطابق احکام قانون.

۵-عقدقراردادعمليات نفت وگاز باسايراشخاص وپيشنهاد تصويب آن به کميسيون وزراء.

۶-نظارت از عملی شدن شرايط مندرج قرارداد وتصديق از انجام آن.

۷- متوقف ساختن فعاليت قراردادی وفسخ يا انتقا ل قراردادها طبق تصويب کميسيون وزراء.

۸-تعيين اندازهٔ حق الاجاره استفاده از سطح زمين وحصول اطمينان از جمع آوری آن.

۹-تعيين مقدار اوليه حق الاامتياز (رويالتی) هايدروکاربن ها به منظور آغاز داوطلبی

امتیاز (رویالتی) د لومړني مقدار ټاکل او د هغهٔ حق الامتیاز چې د داوطلبی په پایله کې تثبیتېږي له راټولولو څخه ډاډ ترلاسه کول.

۱۰- د داوطلبی د بلنې لپاره دنفتو اوګاز په بلاکونو، د هېواد د ساحو وېشل.

۱۱- د نفتو او ګاز دعملیاتو ثبتول (راجسترېشن).

۱۲- دنفتو او ګاز دعملیاتو د جواز ورکول یا لغو کول او ددې قانون د حکمونو مطابق په هغو پورې د اړوندو حقوقو او وجایبو تثبیتول.

۱۳- ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور د مقررو د وضع کولو وړاندیز.

۱۴-لږترلږهٔ په کال کې یوځل د دولت دمالیاتي عوایدواونورو مستقیمو اوغیرمستقیمو اقتصادي ګټو چې د نړیوال منل شوي نورم مطابق، دنفتو او ګاز له عملیاتو

قراردادهای نوع اول و دوم وحصول اطمینان از جمع آوری حق الامتیازیکه در نتیجه داوطلبی تثبیت می گردد.

۱۰-تقسیم ساحات کشور به بلاک های نفت وگاز جهت دعوت داوطلبی.

۱۱-ثبت (راجستریشن) عملیات نفت وگاز.

۱۲-اعطاء یا لغوجوازنامهٔ عملیات نفت و گاز وتثبیت حقوق و وجایب مربوط به آن طبق احکام این قانون.

۱۳-پیشنهاد وضع مقرره ها به منظور تطبیق بهتراحکام این قانون.

۱۴- نشر راپور توحید شدهٔ عواید مالیاتی وسایر منافع اقتصادی مستقیم وغیر مستقیم دولت که طبق نورم قبول شدهٔ بین المللی ازعملیات نفت

څخه لاسته راځي، دتوحيد شـــوي رپوټ خپرول.

۱۵- د نفتو او ګاز لـــه اړونـــدو عملياتو څخـــه د رامنځتـــه شـــوو عوايدو او مستقيمو او غير مستقيمو اقتصادي ګټو په شـــمول د مـــالي توليدي کلنيو اجراآتو په هکله، لـــه قراردادیانو او دولتي ادارو څخه د معلوماتو غوښتل.

۱٦- ددې مادې په (۱۴ او ۱۵) جزء کې درج له تر لاســـه شـــوو معلومـــاتو څخـــه ګټـــه اخـــستل اود بـــين المللـــي منـــل شـــوو نورمونـــو مطـــابق، د دولـــت لخـــوا د هغـــو خپـــرول او افشاء کول.

۱۷- ددې مادې په (۱۴ او ۱۵) جزء کې له درج شـــوو معلومـــاتو پرته، د قانون د حکمونو مطـــابق، يا د اړوند قراردادي پـــه ليکلـــې موافقه له قراردادي څخه د نـــورو ترلاسه شوو معلوماتو خپـــرول او وګاز بدست ميآيدحد اقـــل ســـال يک مرتبه.

۱۵- مطالبـــــهٔ معلومـــــات از قـــراردادی هـــا وادارات دولتـــی درمـــــورد اجـــــراآت ســـــالانهٔ مالی تولیدی بـــه شـــمول عوايـــد ومنافع مـــستقيم وغيـــر مـــستقيم اقتصادی ناشی از عملیات مربوط نفت وگاز .

۱٦- اســـــتفاده ازمعلومـــــات حاصـــــلهٔ منـــــدرج اجـــــزای (۱۴و۱۵) ايـــــن مـــــاده ونـــــــشر و افـــــــشاء آن از طـــــــرف دولـــــــت طبـــق نـــورم قبـــول شـــدهٔ بين المللی.

۱۷- نـــشر و افـــشاء ســـاير معلومـــات دريافـــت شـــده از قـــــراردادی غيـــــر از مواد مندرج اجزای (۱۴ و۱۵) اين ماده مطـــابق احکـــام قـــانون يا به موافقـــهٔ کتبـــی قـــراردادی

افشاء کول .

۱۸- ددې قانون د حکمونو مطابق د نورو دندواوواکونو سرته رسول.

۱۹- د داوطلبۍ اعلان او د هغهٔ د بهیر تنظیمول.

۲۰- دقرارداد له منظورۍ وروسته، دجواز لیک صادرول.

۲۱- دلزوم دید اود قراردادي د موافقې په صورت کې د وزیرانو د کمېسیون له تأیید وروسته د منظورۍ لپاره وزیرانو شوري ته د هایدروکاربونونو دعملیاتو په قراردادونو کې د تعدیل وړاندیز.

۲۲- دوزیرانو شوري ته د هایدروکابونونو دعملیاتو د قرارداد د منظورۍ لپاره، وړاندیز.

۲۳- د تصویب لپاره د وزیرانو شوري ته د نفتو او ګاز د قرارداد د امتیاز د لېږدېدو لپاره، وړاندیز.

د نفتو او ګاز ثبتول

شپږمه ماده:

مربوط.

۱۸-انجام سایر و ظایف و صلاحیت ها مطابق احکام این قانون.

۱۹- اعلان داوطلبی و تنظیم جریان آن.

۲۰- صدور جوازنامه بعد از منظوری قرارداد.

۲۱- پیشنهاد تعدیل در قراردادهای عملیات هایدروکاربن- ها بعد از تائید کمیسیون وزراء جهت منظوری به شورای وزیران، در صورت لزوم دید وموافقه قراردادی.

۲۲- پیشنهاد جهت منظوری قرارداد عملیات هایدروکاربن ها به شورای وزیران.

۲۳- پیشنهاد انتقال امتیاز قرارداد نفت و گاز جهت تصویب به شورای وزیران.

ثبت نفت وگاز

مادهٔ ششم:

(۱) د نفتو او ګاز دعملیاتو د ثبت په منظور، د کانونو په وزارت کې یوه اداره جوړېږي.

د ثبت اداره د لاندې دندو لرونکې ده:

۱- د افغانستان د نقشې برابرول چې په هغې کې بلاکونه او ساحې په لاندې توګه مشخص شوي وي:

- د هایدروکاربونونو عملیات د دولت په واسطه پرمخ بیول کېږي.

- د هایدروکاربونونوعملیات قراردادي ته سپارل شوي دي (پدې صورت کې د قراردادي مشخصات یادېږي).

- په راتلونکې کې داوطلبۍ ته د سپارلو وړ وي.

- د نفتو او ګاز عملیات په هغو کې ممنوع وي.

۲- د عقد شوو قراردادونو د فهرست برابرول چې د لاندې معلوماتو لرونکي وي:

- د قراردادي بشپړ شهرت،

(۱)به منظور ثبت عملیات نفت وگاز ادارۀ در وزارت معادن ایجاد می گردد.

ادارۀ ثبت دارای وظایف ذیل می باشد:

۱-تهیۀ نقشۀ افغانستان که در آن بلاک ها و ساحات به ترتیب زیر مشخص شده باشد:

- عملیات هایدروکاربن ها توسط دولت پیش برده می شود.

- عملیات هایدروکاربن ها به قراردادی سپرده شده است (در اینصورت مشخصات قراردادی ذکر می گردد).

- قابل سپردن به داوطلبی در آینده می باشد.

- عملیات نفت وگاز در آن ممنوع می باشد.

۲-تهیۀ فهرست قراردادهای منعقدۀ که حاوی معلومات ذیل می باشد:

-شهرت مکمل قراردادی،آدرس

د دفتر او معرفي شوي استازي يا يې د قانوني وکيل آدرس.

– دپرېښودل شوو ساحو دقرارداد په شمول، په قرارداد کې دشاملو ساحو توضيح .

– د قرارداد او هغو پړاوونو (فيز) چې پکې په پام کې نيول شوي دي د تمديد، نوي کولو او انقضاء په شمول د اعتبار موده.

– د قراردادونو، سوداګريزو کشفونو او نورو مهمو کشفونو او پرمختيا يا د توليد په پيل پورې د اړوندو تصميمونو په هکله په معلوماتو پورې د مربوطو مهمو مسئلو توضيح.

۳– د قراردادونو، لايسنسونو، په هغو پورې د اړوندو سندونو او دلايسنسونو او قراردادونو په تمديد، تجديد، فسخ يا انقضاء پورې د نورو مربوطو اړينو سندونو د نقلونو ساتل.

دفترو نمايندهٔ معرفی شده يا وکيل قانونی وی.

–توضيح ساحات شامل قرارداد به شمول قراردادساحات واگذارشده.

– مدت اعتبارقرارداد ومراحلی (فيز)که درآن مدنظرگرفته شده به شمول تمديد،تجديد وانقضای آن.

– توضيح مسايل مهم مربوط به معلومات در مورد قراردادها،کشف های تجارتی وسايرکشف های مهم و تصاميم مربوط به انکشاف دستآوردهای تجارتی يا شروع توليد.

۳–نگهداری نقل قراردادها، لايسنس ها، اسناد مربوط به آن ها وسايراسناد ضروری مربوط به تمديد،تجديد، فسخ يا انقضای لايسنس ها وقراردادها.

۴- د ټولو نل لیکــو اود هغــو د اړونــدو اســانتیاوو لکــه پمــپ استېشنونو، د کمپرېشن مرکزونو، د تقاطع د مرکزونو، فرعي کرښو او پایته رسېدونکو ټکــو د فهرســت برابرول او ترتیبول.

۵- نور هغه معلومات چې د کانونو وزارت یې لازم و ګڼي.

دنفتو اوګاز ثبت تــه عامــه لاس رسي

اوومه ماده:

دکــانونو وزارت کــولای شــي د دولتــي ریکوردونــو(عامــه ثبت شــوو ســندونو) دنــه افــشاء په اړه دنافذو تقنیني سندونو دحکمونو له په پام کې نیولــو ســره دقــرارداد دشرایطو مطابق، د غوښتنې پرېنــسټ، دنفتو او ګــاز دثبــت دفــیس لــه ورکولوپرته د لاس رسی اجازه ورکړي اوهم کولای شي دغوښتنې پرېنسټ اود ټاکلي فیس په ورکولوسره د نفتو اوګاز دثبت له معلوماتوڅخه دنسخې اخستنې

۴-تهیه وترتیب فهرســت تمــام پایپ لاین ها وتسهیلات مربــوط آن مانند پمــپ استیــشن هــا، مراکز کمپریشن، مراکز تقــاطع، خطــــوط فرعــــی و نقــــاط پایانی.

۵-سایرمعلوماتیکه وزارت معادن آنرا لازم بداند.

دسترسی عامه به ثبــت نفــت وگاز

مادۀ هفتم:

وزارت معــــادن بانظرداشــــت احکــام اســناد تقنینــی نافــذه مبنــــی بــــر عــــدم افــــشاء ریکورد های دولتی (اسناد ثبــت شدۀ عامه) طبق شرایط قرارداد می تواند به اســاس تقاضــا، اجــازۀ دسترسی به اسناد ثبت نفت وگاز را بدون تادیه فیس اعطاء نمایــد ونیز می تواند بالاثر تقاضا وتادیــۀ فیس معینه اجازه نسخه بــرداری (کاپی) از معلومات ثبت نفت وگاز

(کاپي) اجازه ورکړي.

دنفتواوګاز د اطلاعاتو بانک

اتمه ماده:

د کانونو وزارت مکلف دی دنفتو اوګاز د اطلاعاتو بانک چې د لاندې اکتشافي او توليدي مطالبو لرونکی وي، د نړيوالو معيارونو مطابق وساتي:

۱- دهغو دډول اواندازې له پام کې نيولوپرته جيوفيزيکي او جيولوجيکي معلومات، اطلاعات او رپوټونه.

۲- په څاه پورې اړوند اطلاعات، د څاه د موقعيت، د کتګوری د نوم او اړوند معلوماتو (څاه دننه لاکونه Logs د هستې يا کور Core) او جيوشيميکي په شمول.

۳- د توليد رپوټونه.

دنفتو اوګاز داطلاعاتو له بانک څخه ګټه اخستنه

را بدهد.

بانک اطلاعات نفت وگاز

مادهٔ هشتم:

وزارت معادن مکلف است بانک اطلاعات نفت وگاز را که حاوی مطالب اکتشافی وتولیدی ذیل می باشد مطابق معیارهای بین المللی نگهداری نماید:

۱- معلومات جیوفیزیکی وجیولوجیکی،اطلاعات یا راپورها بدون نظرداشت شکل واندازهٔ آن.

۲-اطلاعات مربوط به چاه ، شامل موقعیت، نام کتگوری و معلومات مربوط چاه (لاگ های Logs داخل چاه (اطلاعات هسته یا کورCore) وجیوشیمیکی.

۳-راپورهای تولید.

استفاده از بانک اطلاعات نفت وگاز

نهمه ماده:

په قرارداد کې د درج شوو شرایطو له په پام کې نیولو سره د ورکړې وړ فیسونو په شمول د بیا ارزونې افشاء کولو شرایط او د نفتو او ګاز د اطلاعاتو په بانک کې له موجودو اطلاعاتو څخه د ګټې اخستنې ډول، د کانونو وزارت لخوا ټاکل کېږي.

ولایتي دفترونو ته دمعلوماتو ورکول

لسمه ماده:

د کانونو وزارت د قرارداد یا لایسنس د هغو د لېږدېدو، تصویب یا فسخ او لغو کېدو دجزئیاتو په هکله چې د نفتو اوګاز په ثبت کې شامل دي، د کانونو وزارت ولایتي دفترونو ته چې په قرارداد یا لایسنس کې درج ساحې په هغو ولایتونو کې قرار لري معلومات ورکوي، ولایتي څانګه دغه معلومات د ولایت

مادۀ نهم:

شرایط افشاء سازی ارزیابی مجدد ونحوۀ استفاده از اطلاعات موجود دربانک اطلاعات نفت وگاز به شمول فیس های قابل پرداخت بارعایت شرایط مندرج قرارداد از طرف وزارت معادن تعیین می گردد.

ارائه معلومات به دفاتر ولایتی

مادۀ دهم:

وزارت معادن درمورد جزئیات قرارداد یا لایسنس ، انتقا ل، تصویب ،فسخ یا لغو آنها که شامل ثبت نفت وگاز می باشد، به دفاتر ولایتی وزارت معادن که ساحات مندرج قرارداد یالایسنس درآن ولایات قرار دارد معلومات می دهد. شعبۀ ولایتی این معلومات را به اطلاع والی

د والي خبرتيا ته رسوي.

دريم فصل

د عملياتو ساحې او د ځمکې دسطح حقوق

د دولتي ځمکې دتصرف او ورڅخه د ګټې اخستنې ډول

يوولسمه ماده:

(۱) که چېرې قراردادي په اړونـــد قرارداد کې په شاملو ساحو کې د نفتو اوګاز دعملياتو دتر سره کولو لپاره دهغو تصرف يا ورڅخه ګټـــې اخستنې ته اړتيا ولري او نومـــوړې ساحې ددولت ملکيت يا د دولت په واک کې وي، نوموړې ځمکه ددې قانون دحکمونو مطـــابق، د نفتـــو اوګاز دعملياتو د سرته رسولو لپاره دقرارداد په موده کې د هغۀ په واک کې ورکوله کېږي.

(۲) دولت د تېرېدو د مناسبې لارې د حق او نور هغـــه حقـــوق چـــې

ولايت ميرساند.

فصل سوم

ساحات عمليات وحقوق سطح زمين

طرزتـــــصرف واســـــتفاده از زمين دولتی

مادۀ يازدهم:

(۱) هرگـــاه قـــراردادی جهـــت انجـــام عمليـــات نفـــت وگـــاز درساحۀ شامل قـــرارداد مربـــوط، به تصرف يا اســـتفاده ازآن نيـــاز داشـــــته وســـــاحات متـــــذکره ملکيت دولـــت يـــا در اختيـــار دولـــت باشـــد، زمـــين مـــذکور طبـــق احکـــام ايـــن قـــانون بـــــرای انجـــــام عمليـــــات نفت وگـــاز درميعـــاد قـــرارداد، به اختيار وی گذاشته می شود.

(۲) دولـــت حـــق داشـــتن راه عبور مناسب وسايرحقوق را کـــه

د نفتو اوګاز د عملیاتو د سرته رسولو لپاره اړین وي، ځمکې تضمینوي.

غرض انجام عملیات نفت وگاز ضروری باشد،تضمین می نماید.

د شخصي ځمکې د تصرف او ګټې اخستنې ډول

دوولسمه ماده:

که چېرې قراردادي د نفتو اوګاز د عملیاتو د سرته رسولو لپاره هغه ځمکه چې د قرارداد په ساحه کې شامله ده تصرف کړي یا یې تر ګټې اخستنې لاندې و نیسي او نوموړې ځمکه شخصي ملکیت وي، دولت کولای شي د قراردادي د غوښتنې او د کانونو وزارت د وړاندیز پر بنسټ، د هایدروکاربونونو دعملیاتو په غرض د عقد شوي قرارداد د مودې لپاره د نوموړې ساحې د استملاک یا اجارې په اړه د مالک د موافقې داخستلو په برخه کې، د قانون مطابق عمل و کړي. قراردادی ددغهٔ ډول اراضی د ګټې اخستنې او تصرف

طرز تصرف و استفاده از زمین شخصی

مادهٔ دوازدهم:

هرگاه قراردادی برای انجام عملیات نفت وگاز، زمینی راکه درساحهٔ قراردادشامل می باشد، تصرف نموده یامورد استفاده قراردهد زمین مذکور ملکیت شخصی باشد،دولت می تواند به اساس تقاضای قراردادی و پیشنهاد وزارت معادن درقسمت اخذ موافقهٔ مالک مبنی بر استملاک یا اجارهٔ ساحهٔ متذکره برای مدت قرارداد منعقده جهت عملیات هایدروکاربن ها طبق قانون عمل نماید.قراردادی جهت استفاده یا تصرف چنین اراضی نرخ بازار را می پردازد،

لپاره د بازار نرخ ورکوي، که چېرى قراردادي ددمخه اجازې له اخستلو پرته اراضي تصرف کړي، تيرى کوونکى ګڼل کېږي، د قانون دحکمونو مطابق له هغهٔ سره چلند کېږي.

د تېرېدو دلارې د لرلو حق

دیارلسمه ماده:

(۱) که چېرې قراردادي د نفتو اوګاز د عملياتو د سرته رسولو لپاره د استفادې اود تېرېدو له لارې څخه دګټې اخستنې حق ته اړتيا ولري، دولت کولای شي قراردادي ته زمينه برابره کړي او پدې صورت کې مالک يا متصرف ته د زيان د جبران ورکول، د قراردادي په غاړه دي.

(۲) د تېرېدو له لارې څخه د ګټې اخستنې حق، د قرارداد له پايته رسېدو وروسته منقضي کېږي.

زيان موندونکي ته دزيان جبران

څوارلسمه ماده:

هرگاه قراردادی بدون اخذ اجازه قبلی اراضی را تصرف نماید، متجاوز پنداشته شده، مطابق احکام قانون با وی رفتار صورت می گیرد.

حق داشتن راه عبوری

مادهٔ سیزدهم:

(۱)هرگاه قراردادی جهت انجام عملیات نفت وگاز ضرورت به حق استفادهٔ راه عبور داشته باشد، دولت می تواند زمینه را برای قراردادی مساعد نماید، در این صورت پرداخت جبران خساره به مالک یا متصرف ، بدوش قراردادی می باشد.

(۲) حق استفادهٔ راه عبوری بعد از ختم قرارداد، منقضی می گردد.

جبران خساره به متضرر

مادهٔ چهاردهم:

(۱) که چېرې د نفتو اوګاز د سطحي او عمقي تفحصاتي عملياتو له امله د اشخاصو قانوني ملکيت يا حقوقو ته زيان ورسېږي، د هغو ويجاړيو له په پام کې نيولو سره چې د ځمکې پر مخ او کرنيزو حاصلاتو، ونو، څارويو ته رسېږي، قراردادي د زيان د عادلانه جبران په ورکولو مکلف دی.

(۱) هرگاه به اثرعمليات سطحی وعمقی تفحصاتی نفت وگاز ضرری به ملکيت ياحقوق قانونی اشخاص واردگردد، بانظرداشت تخريباتيکه درسطح زمين و حاصلات زراعتی، اشجار، تعميرات،حيوانات وارد گردد قراردادی مکلف به پرداخت جبران خساره عادلانه می باشد.

(۲) د زيان د جبران مقدار د اړخونو د موافقې پر بنسټ تثبيتېږي، له اړخونو څخه د يوۀ د نه قناعت په صورت کې، موضوع د کانونو وزارت د مؤظفينو په واسطه څېړل کېږي او د زيان د جبران مقدار ټاکل کېږي.

(۲)مقدارجبران خساره به اساس توافق جانبين تثبيت می گردد، در صورت عدم قناعت يکی از طرفين موضوع توسط مؤظفين وزارت معادن بررسی ومقدارجبران خساره تعيين می گردد.

(۳) که چېرې اړخونه د کانونو وزارت د مؤظفينو په واسطه د زيان د جبران د مقدار په ټاکلو موافقه و نلري موضوع د شخړو د حل د يوې کميټې

(۳) هرگاه طرفين به مقدار جبران خساره تعيين شده توسط مؤظفين وزارت معادن موافقه نداشته باشند، موضوع ازطريق يک کميته حل منازعات

چـــــې د عـــــدلیې، کـــــانونو، کرنې اوبو لګولـــو او مالـــداری، مـــالیې وزارتونـــــو او د ژونـــــد چاپېریال ســـاتنې د ملـــي ادارې د ریاست له اســـتازو څخـــه جـــوړه وي له لارې حل او فصل کېږي د شخړو د حل د کمیټې پر فیصلې د نه قناعت په صورت کې موضوع د عدلي او قضایي مراجعو لـــه لارې حل او فصل کېږي.

مقیده ساحې

پنځلسمه ماده:

شخص نشي کولای په لاندې ساحو باندې د نفتو اوګاز عملیات سرته و رسوي، خو دا چې د کانونو وزارت لخوا ورته واک سپارل شوی وي:

۱–هغه ساحه چې دپاسه یې تاریخي اوفرهنګي آثار قرار ولري اودقانون مطابق مشخصه شوې وي.

۲– هغه ساحه چې د دولت ملکیت ودانۍ یا د اوبو بند پـــه محـــدوده یا سل متري واټن کې شامله وي.

متشکل از نمایندگان وزارت های عدلیه، معادن، زراعت، آبیـــاری و مالـــداری و مالیـــه و ریاســـت ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیـــست می باشد، حل و فصل می گـــردد. درصـــــورت عـــــدم قناعـــــت طرفین به فیـــصله کمیتـــه حـــل منازعـــــــات، موضـــــــوع از طریق مراجع عدلی وقضائی حـــل وفصل می گردد.

ساحات مقیده

مادهٔ پانزدهم:

شخص نمی تواند بالای ســـاحات ذیل عملیات نفت وگاز را انجـــام دهد،مگر اینکه ازطـــرف وزارت معادن تفویض صلاحیت شده باشد:

۱– ساحه ای که آثـــار تـــاریخی وفرهنگی بـــالای آن قرارداشـــته وطبق قانون مشخص گردیده باشد.

۲– ساحه ای که شامل محـــدوده یا درفاصله صدمتری تعمیر یا بند آب ملکیت دولت قرار داشته باشد.

۳- هغه ساحه چې د هوايي ډګر يا حضيرې يوه برخه پکې شامله وي.

۴- هغه ساحه چې د ملي د فاع د وزارت ملکيت وي اويا يې تر ګټې اخستنې لاندې وي.

۵- هغه ساحه چې د عامې لارې، لويې لارې (شاهراه)، دوسپنې د پټلۍ، نل ليکې او نورو عامه تأميناتو په منظور ور څخه ګټه واخستل شي.

٦- هغه ساحې چې دکانونو وزارت په تشخيص دتر دعوي لاندې سيمو په توګه اعلان شوې وي .

۷- هغه ساحې چې ددولت دفرمان پربنسټ دممنوعه يا غيرمجاز سيمو په توګه ټاکلې شوې وي.

۳- ساحه ای که شامل بخش از ميدان هوائی يا حضيره باشد.

۴- ساحه ای که ملکيت وزارت دفاع ملی بوده و يا مورد استفاده آن قرار داشته باشد.

۵- ساحه ای که به منظور راه عام ،شاهراه ، خط آهن،پايپ لاين وساير تأمينات عامه از آن استفاده شود.

٦- ساحاتيکه به تشخيص وزارت معادن به حيث مناطق تحت دعوی اعلان شده باشد.

۷-ساحاتيکه به اساس فرمان دولت منحيث منطقهٔ ممنوعه يا غيرمجاز تعيين شده باشد.

دشخصي ملکيت دپاسه دعملياتو داجازې اخستل

شپاړسمه ماده:

اخذ اجازهٔ عمليات بالای ملکيت شخصی

مادهٔ شانزدهم:

(۱) هغه اشخاص چې د نفتو اوګاز عملیات سرته رسوي مکلف دي چې د شخصي ځمکو دپاسه د نفتو اوګاز د عملیاتو د سرته رسولو اجازه د ځمکې له مالک یاله قانوني متصرف یا د هغوی له واکمن استازي څخه ترلاسه کړي، پرته لدې شخص تېری کوونکی ګڼل کېږي، د قانون مطابق مجازات کېږي.

(۲) د هغو ساحو په هکله چې د مخه د نفتو او ګاز د عملیاتو په ساحه کې شاملې وي، ددې مادې په (۱)فقره کې درج شوي اجراآت،صدق نه کوي، خو دا چې قراردادي پدې هکله موافقه وکړي.

(۱) اشخاصی که عملیات نفت وگاز را بالای زمین های شخصی انجام میدهند، مکلف اند اجازهٔ آنرا از مالک ،متصرف قانونی ویا نمایندهٔ باصلاحیت آنها بدست آورند در غیر آن شخص متجاوز پنداشته شده مطابق احکام قانون مجازات می گردد.

(۲) اجراآت مندرج فقره (۱) این ماده، درمورد ساحاتیکه قبلاً شامل ساحه قرارداد عملیات نفت وگاز باشد، صدق نمی کند، مگر اینکه قراردادی در موارد توافق نماید.

دنفتو اوګاز دعملیاتو ترلې ساحې

اوولسمه ماده:

(۱) د کانونو وزارت کولای شي د

ساحات بستهٔ عملیات نفت وگاز

مادهٔ هفدهم:

(۱) وزارت معادن می تواند

ملي ګټو (د خلکو دروغتیا او ساتنې، ملي خوندیتوب ، د عامه نظم دارتیا او له خاورې، د ځمکې له مخ، تر ځمکې لاندې سرچینو څخه د ګټې اخستنې له موجودو یا پلان شوو نورو طریقو سره دنفتو اوګاز دعملیاتو دنه تطابق، دژوند چاپیریال ساتنې،دتاریخي، فرهنګي آثارودساتنې یادسیمې دزیان منونکې طبیعي یا ټولنیزې سوکالۍ دنوروارزښتونو) د تأمینولو په منظور،ساحه یاساحې دنفتو اوګاز دځینویا ټولوعملیاتو لپاره دترلوسیموپه توګه دوزیرانو کمېسیون ته دتصویب په غرض وړاندیز کړي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي عملیات په غیر معقول ډول صورت ومومي، قراردادي کولای شي موضوع ددې قانون په څلورمه ماده کې درج دوزیرانو کمېسیون ته

به منظور تأمین منافع ملی (صحت وتحفظ اهالی ، مصئونیت ملی، ضرورت نظم عامه و عدم تطابق عملیات نفت و گاز با سایر طرق استفاده موجود یا پلان شده از خاک ، سطح زمین ، منابع زیرزمین، حفاظت محیط زیست، حفظ آثار تاریخی وفرهنگی یا سایر ارزش های طبیعی ، یا رفاه اجتماعی آسیب پذیر محل) ساحه یا ساحاتی را به حیث مناطق بسته برای بعضی یاهمهٔ عملیات نفت و گاز، جهت تصویب به کمیسیون وزرأ پیشنهاد نماید.

(۲) هرگاه اجراآت مندرج فقره (۱) این ماده، بشکل غیرمعقول صورت گیرد قراردادی می تواند موضوع را به کمیسیون وزراء مندرج مادهٔ چهارم این قانون

وړاندې کړي.

د وزيرانو کمېسيون واک لري تر خاصو شرايطو لاندې په پام وړ ساحو کې د نفتو اوګاز عملياتو ته اجازه ورکړي.

دنفتو اوګاز د عملياتوپه ساحه کې دمنرالي جواز ليک ورکول

اتلسمه ماده:

دولت کولای شي په قرارداد کې د درج شوو شرايطو له په پام کې نيولو سره اشخاصو ته د نفتو اوګاز هايدروکاربونونو د قرارداد په ساحه کې دکانونو د قانون د حکمونو مطابق، دکاني موادو داکتشافي او ګټې اخستنې جواز ورکړي.پدې شرط چې دنوو فعاليتونو سرته رسول، دنفتو اوګاز دعملياتو خنډ نشي. پدې صورت کې قراردادي مکلف دی، اړوندې ساحې ته دمنرالي حقوقو دجواز لرونکي درسېدو لپاره، دتېرېدو مناسبه لار وټاکي .

ارائه نماید.

کميسيون وزراء صلاحيت دارد تحت شرايط خاص درساحات موردنظرعمليات نفت وگاز را اجازه دهد.

اعطای جوازنامهٔ منرالی درساحه عمليات نفت وگاز

مادهٔ هجدهم:

دولت می تواند بانظرداشت شرايط مندرج قرارداد، جواز اکتشافی وبهره برداری مواد معدنی راطبق احکام قانون معادن درساحه قرارداد نفت وگاز (هايدروکاربن ها) به اشخاص اعطاء نماید، مشروط براينکه انجام فعاليت های جديد، مانع عمليات نفت وگاز نگردد.دراين صورت قراردادی مکلف است راه عبور مناسب را برای رسيدن دارندهٔ جواز حقوق منرالی به ساحه مربوط معين نماید.

د کاني موادو کشف

نولسمه ماده :

که چېرې دنفتو اوګاز قراردادي دعملياتو په بهير کې اقتصادي ارزښت لرونکي کاني مواد کشف کړي، پدې صورت کې مکلف دی د يوې مياشتې په موده کې موضوع د نمونې له استولو سره يوځای دکانونو وزارت ته خبر ورکړي.

دتاريخي اوفرهنګي آثارو کشف

شلمه ماده :

(۱) دنفتواوګاز دعملياتو قراردادي مکلف دی، د نفتو اوګاز دعملياتو په بهير کې دتاريخي اوفرهنګي آثارو دنښو او علامو دپيداکېدو يا کشف په وخت کې، موضوع ژر تر ژره دکانونو دپلټنې، داطلاعاتو، فرهنګ او ګرځندوی وزارت دتاريخي آبداتو دساتنې او ترميم ادارو ته خبر

کشف مواد معدنی

مادۀ نزدهم:

هرگاه قراردادی نفت وگاز درجريان عمليات، مواد معدنی دارای ارزش اقتصادی را کشف نمايد، دراينصورت مکلف است طی مدت يک ماه موضوع را توأم با ارسال نمونه به وزارت معادن اطلاع دهد.

کشف آثار تاريخی وفرهنگی

مادۀ بيستم:

(۱)قراردادی عمليات نفت و گاز مکلف است، حين دريافت نشانه ها وعلايم ياکشف آثار تاريخی و فرهنگی در جريان عمليات نفت و گاز موضوع را به ادارات تفتيش معادن ، حفظ ترميم آبدات تاريخی وزارت اطلاعات ، فرهنگ و توريزم به اسرع وقت

ورکړي .

(۲) فوسیلونه اودتاریخي اوفرهنګي آثارو په لست کې شامل نور شیان هم دتاریخي اوفرهنګـــي آثـــارو د عناصروپه جمله کې شمېرل کېږي.

(۳) دنفتو اوګاز دعملیاتو قراردادي نشي کولای ددې مادې پـــه (۱ او ۲) فقره کې درج شـــوي عناصـــر ولېږدوي، خوکولای شي هغه لـــه دولت څخه په استازیتوب، داړوندو دولتي ادارو لخوا دلېږدولو تر وخته پـــورې خونـــدي کـــړي او ویې ساتي .

(۴) په هغهٔ صورت کې چـــې ددې مادې په (۳) فقره کې درج شـــوي عناصر داړوندو دولتـــي ادارو پـــه واسطه دخبرتیا له نېټې څخه د(٦۰) ورځومودې په ترڅ کې ونه لېږدول شي، دهغو دخوندي کولو او ساتنې وروستي مستقیم لګښتونه داړوندې دولتي ادارې لخوا ورکول کېږي .

د نفتو او ګاز د عملیاتو بنسټیز

اطلاع دهد.

(۲) فوسیل ها وسایراشیاء شـــامل لست آثار تاریخی وفرهنگی نیز از جمله عناصر آثار تاریخی و فرهنگی به شمار میرود.

(۳) قـــراردادی عملیـــات نفـــت و گاز نمی تواند عناصر منـــدرج فقره های (۱ و۲) ایـــن مـــاده را انتقا ل دهد، اما می توانـــد آنهـــا را به نماینـــدگی از دولـــت الـــی انتقال از طـــرف ادارات مربـــوط دولتـــی حفـــظ ونگهـــداری نماید.

(۴) درصورتی که عناصر منـــدرج فقـــرهٔ (۳) ایـــن مـــاده توســـط ادارات مربـــوط دولتـــی در خـــلا ل مـــدت(٦۰) روز از تاریخ اطلاع انتقا ل داده نـــشود، مصارف مستقیم بعدی حفاظـــت ونگهداری آنهـــا ازطـــرف ادارهٔ مربوطه دولتی پرداخته می شود.

اصول اساسی عملیات نفت و

اصول

يوويشتمه ماده:

(۱) د نفتو او ګاز ټول عملیات ددې قانون د حکمونو اود نفتو او ګاز د عملیاتو د قرارداد پربنسټ صورت مومي.

(۲) د نفت او ګاز د عملیاتو، دقراردادونو شرایط او مندرجات، ددې قانون اود نفتو او ګاز د مقررې (هایدروکاربونونو) د حکمونو مطابق تنظیمېږي.

(۳) د نفتو او ګاز د عملیاتو قرارداد، د وزیرانو شوري له تصویب وروسته، عملي کېږي.

گاز

مادۀ بیست ویکم:

(۱) تمام عملیات نفت وگاز مطابق احکام این قانون و براساس قرارداد عملیات نفت و گاز صورت می گیرد.

(۲) شرایط و مندرجات قراردادهای عملیات نفت وگاز (هایدروکاربن ها) مطابق احکام این قانون و مقرره نفت وگاز (هایدروکاربن ها) تنظیم می گردد.

(۳) قرارداد عملیات نفت و گاز بعد از تصویب شورای وزیران عملی می گردد.

د قراردادونو د ارزونې هیئت

دوه ویشتمه ماده:

(۱) د نفتو او ګاز د عملیاتو د قراردادونو د ارزونې هیئت، جوړ دی له د کانونو

هیئت ارزیابی قراردادها

مادۀ بیست و دوم:

(۱) هیئت ارزیابی قراردادهای عملیات نفت وگاز متشکل از نمایندگان وزارت معادن

وزارت استازي چې د کادستر د اداري يا اړوندې تصدۍ د غوښتنې پربنسټ، د کانونو د وزير په غوراوي ټاکل کېږي اود اړوندو وزارتونو استازي.

(۲) د نفتو او ګاز عملياتو د قراردادونو د ارزونې هيئت د لاندې واکونو لرونکی دی:

۱- د آفرونو پرانستل.

۲- د داوطلبانو د طرحو او وړانديزونو څېړل او ارزول.

۳- د وړونکي داوطلب اعلام.

که به اساس تقاضای ادارهٔ کادستر ويا تصدی مربوط به انتخاب وزير معادن تعيين مي ګردد. و نمايندګان وزارت های ذيربط.

(۲) هيئت ارزيابی قراردادهای عمليات نفت وګاز دارای صلاحيت های ذيل می باشد:

۱- باز نمودن آفرها.

۲- بررسی و ارزيابی طرح ها و پيشنهادات داوطلبان .

۳- اعلام داوطلب برنده.

څلورم فصل

دنفتو اوګاز دعملياتو قرارداد

دقرارداد ډولونه

دويشتمه ماده :

دنفتو اوګازدعملياتو قرارداد په

فصل چهارم

قرارداد عمليات نفت وګاز

انواع قرارداد

مادهٔ بيست وسوم :

قراردادعمليات نفت وګاز به

لاندې ډولونو عقد کېږي :

۱- داکتشاف اود تولید د وېشلو قرارداد (لومړي ډول قرارداد) .

۲- دخدمت دسرته رسولو اود تولید دوېشلو قرارداد (دوه یم ډول قرارداد).

۳- د جیولوجیکي، جیوفیزیکي او جیوشیمیکي خدمتونو قرارداد (دریم ډول قرارداد).

۴- د نل لیکې د عملیاتو قرارداد (څلورم ډول قرارداد).

داکتشاف اود تولید د وېشلو قرارداد

څلېریشتمه ماده :

داکتشاف اودتولید دوېشلو قرارداد، قراردادي ته اجازه ورکوي څو د هغهٔ د مندرجاتو مطابق دنفتو اوګاز د اکتشاف اودسوداګریز کشف په صورت کې، ددې قانون د حکمونو مطابق دنفتو اوګاز په انکشاف او تولید لاس پورې کړي او په بدل کې له تولید شوي

اشکال ذیل منعقد می گردد:

۱- قرارداد اکتشاف وتقسیم تولید (قرارداد نوع اول).

۲- قرارداد انجام خدمت وتقسیم تولید (قرارداد نوع دوم).

۳- قرارداد خدمات جیولوجیکی، جیوفزیکی و جیوشیمیکی (قرارداد نوع سوم).

۴- قرارداد عملیات پایپ لاین (قرارداد نوع چهارم).

قرارداد اکتشاف و تقسیم تولید

مادهٔ بیست وچهارم :

قرارداد اکتشاف وتقسیم تولید برای قراردادی اجازه می دهد تا مطابق مندرجات آن به اکتشاف نفت وگاز ودرصورت کشف تجارتی مطابق احکام این قانون به انکشاف وتولید نفت وگاز می پردازد و در بدل آن مستحق

محصول څخه د ټاکلې ونډې مستحق ګرځي.

دخدمت دسرته رسولو اود توليد دوېش قرارداد

پنځه ويشتمه ماده :

دخدمت دسرته رسولواود توليد د وېش قرارداد، قراردادي ته اجازه ورکوي تر څو د هغهٔ د مندرجاتو مطابق د نفتو او ګاز د څاګانو، خدماتي عملياتو د وړاندې کولو او توليد په شمول، د نفتو او ګاز د توليدي وسايلو په بيارغونې لاس پورې کړي او په بدل کې يې دقرارداد د متن له مخې ددې قانون له حکمونو سره سم له محصول څخه د ټاکلې ونډې مستحق ګرځي.

د جيولوجيکي، جيو فزيکي او جيوشيميکي خدمتونو قرارداد

شپږ ويشتمه ماده :

درېيم ډول قرارداد، قراردادي ته اجازه ورکوي څو جيولوجيکي، جيوفزيکي، جيوشيميکي خدمتونه په

سهم معين از محصول توليد شده می گردد.

قرارداد انجام خدمت وتقسيم توليد

مادهٔ بيست وپنجم :

قرارداد انجام خدمت وتقسيم توليد برای قراردادی اجازه می دهد تا مطابق مندرجات آن به بازسازی وسايل توليدی نفت وگاز به شمول چاه ها، عرضه عمليات خدماتی وتوليد نفت وگاز مطابق احکام اين قانون بپردازد و در بدل آن مطابق متن قرارداد مستحق سهم معينی از محصول می گردد.

قرارداد خدمات جيولوجيکی، جيو فزيکی وجيوشيميکی

مادهٔ بيست وششم:

قرارداد نوع سوم به قراردادی اجازه می دهد تا خدمات جيولوجيکی، جيوفزيکی و

ټاکلې ساحه کې، ددې قانون د حکمونو اود قرارداد د مندرجاتو مطابق سرته ورسوي. دغه قرارداد یوازې د هغو ساحو لپاره د تطبیق وړ دی چې په لومړي او دوه یم ډول قراردادونو کې شاملې نه وي.

جیوشیمیکی را در ساحه معینه طبق احکام این قانون و مندرجات قرارداد انجام دهد. این قرارداد صرفاً برای ساحاتی قابل تطبیق است که مشمول قراردادهای نوع اول و دوم نباشند.

د نل لیکې د عملیاتو قرارداد

اووه ویشتمه ماده :

د نل لیکې د عملیاتو قرارداد قراردادي ته اجازه ورکوي، که څو ددې قانون د حکمونو مطابق نل لیکې او د هغو متمم اجزاء (پمپ استېشنونه، ټانکونه اود زېرمه ځایونو والونه) جوړ کړي، د نفتو او ګاز زېرمه کول او لېږدول سرته ورسوي.

د نل لیکې اود هغې د تګلوري او ساتنیزو چارو په شمول اړوندو اسانتیاوو د ودانولو او عملیاتو د پرمخ بیولو شرایط، د نفتو او ګاز

قرارداد عملیات پایپ لاین

مادۀ بیست وهفتم:

قرارداد عملیات پایپ لاین به قراردادی اجازه می دهد تا مطابق احکام این قانون، پایپ لاین ها و اجزای متمم آن (پمپ استیشن ها، تانک ها و وال های ذخیره گاه) را احداث نموده، عملیات ذخیره کردن و انتقال نفت و گاز را انجام بدهد.

شرایط اعمار و پیشبرد عملیات پایپ لاین و تسهیلات مربوط به شمول تعیین مسیر و امور تحفظی آن در قرارداد نوع چهارم در مقرره نفت

(هایدروکاربونونو) په مقرره کې په څلورم ډول قرارداد کې تنظیمېږي.

د قراردادي مکلفیتونه

اته ویشتمه ماده :

(۴) د کـــانونو د پلټنـــې د ادارې مسئولين کولای شي د ملکيتونو په اړه د دې قانون ، د معـــدنکارۍ د مقررې لـــه حکمونـــو او منرالـــي فعاليتونو څخـــه رامنځتـــه شـــوې سرغړونې وڅېړي .

(۴) مسئولين ادارهٔ تفتيش معـــادن ميتوانند تخطی های ناشی از احکام اين قانون، مقـــررهٔ معـــدنکاری و فعاليـــــت هـــــای منرالـــــی را در رابطـــه بـــه ملکيـــت هـــا بررسی نمايند.

د روغتیا ساتنې د پلان ترتیبول

ځلوراویایمه ماده :

(۱) د منرالي حقوقو لرونکي مکلف دي د فعالیت په اړونده ساحه کې ، د روغتیا ساتنې او د کار د خوندیتوب د ساتنې پلان ترتیب او د کانونو د پلټنې د ادارې له تأیید وروسته یې، کارکوونکو او هغو اشخاصو ته چې د کان ساحې ته داخلېږي تفهیم کړي .

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د خاصو شرایطو او روغتیا ساتنې او د کار د خوندیتوب د ساتنې پلان د معدنکارۍ په مقرره کې توضیح کېږي .

ترتیب پلان حفظ الصحه

مادهٔ هفتاد و چهارم:

(۱) دارندگان حقوق منرالی مکلف اند، پلان حفظ الصحه و حفظ ایمنی کار را در ساحهٔ فعالیت مربوط ترتیب و بعد از تائید ادارهٔ تفتیش معادن برای کارکنان و سایر اشخاصیکه به ساحهٔ معدن داخل میشوند، تفهیم نمایند.

(۲) پلان شرایط خاص و حفظ الصحه و حفظ ایمنی کار مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در مقررهٔ معدن کاری توضیح می گردد.

له چاودېدونکو موادو څخه ګټه اخستنه

پنځه اویایمه ماده :

د منرالي حقوقو لرونکی کولای شي په منرالي فعالیتونو کې له چاودېدونکو موادو څخه ګټه

استفاده از مواد انفجاریه

مادهٔ هفتاد و پنجم:

دارندهٔ حقوق منرالی می تواند در فعالیت های منرالی از مواد انفجاریه استفاده نماید. طرز

واخلي. د هغو د ګټې اخستنې ډول د اړونـــدو تقنينـــي ســـندونو او د معدنکارۍ د مقررې د حکمونو او شرايطو مطابق صورت مومي .

استفادهٔ آن طبق احکام و شـــرايط اســـــناد تقنينـــــی مربـــــوط و مقـــــررهٔ معـــــدن کـــــاری صورت می گيرد.

د جبري استخدام منع

منع استخدام جبری

شپږ اويايمه ماده :

د کارګر ، ټولنيز خونـــديتوب او د بشر د حقوقو په اړه منرالي فعاليتونه د نافذو قوانينو او نړيوالو معيارونو مطابق صورت مـــومي. د منرالـــي فعاليتونو په چارو کې د کـــارګرانو جبـــري اســـتخدام او د اطفـــالو استخدام منع دی .

مادهٔ هفتاد و ششم:

فعاليتهای منرالی مطابق قوانين نافذ و معيار های بين المللی در رابطـــه به کارگر، حفاظـــت اجتمـــاعی و حقوق بشر صورت مـــی گيـــرد. اســـتخدام جبـــری کـــارگران و استخدام اطفال در امور فعاليـــت های منرالی ممنوع می باشد.

د اکتشاف په موده کې د ژوند د چاپيريا ل ســـاتنې د پـــلان ترتيبول

ترتيـــب پـــلان حفاظـــت محـــيط زيـــست در مـــدت اکتشاف

اووه اويايمه ماده :

(۱) د ډبرو د زېرمې د اکتشاف د جـــواز ليـــک يـــا اجـــازه ليـــک لرونکـــی د فعاليـــت لـــه پيـــل د مخه مکلف دی د بيا جـــوړونې او د خپلو اکتـــشافي فعـــاليتونو د

مادهٔ هفتاد وهفتم :

(۱) دارندهٔ جوازنامه يا اجازه نامهٔ اکتـــشافی ذخيـــرهٔ ســـنگ قبـــل از آغاز فعاليـــت مکلـــف اســـت پـــلان بازســـازی و کـــاهش اثـــرات ســـوء فعاليـــت هـــای

ناوړو اغېزو د راټولو پلان ترتيب او تأييد يې د ژوند چاپېريال ساتنې له ادارې څخه تر لاسه کړي .

(۲) د فعاليت د ناوړو اغېزو د راټولو او بيا جوړونې د پلان ترتيب او عملي کول د اکتشافي جواز ليک او اجازه ليک له شرايطو څخه يو دی چې د معدنکارۍ په مقرره کې توضيح کېږي .

اکتشافی خويش را ترتيب و تائيد آنرا از ديپارتمنت حفاظت محيط زيست بدست آورد.

(۲) ترتيب و عملی نمودن پلان کاهش اثرات سوء فعاليت و بازسازی يکی از شرايط جوازنامه يا اجازه نامهٔ اکتشافی بوده که درمقررهٔ معدن کاری توضيح می گردد.

د ګټې اخستنې په موده کې د ژوند ساتنې د چاپېريال ساتنه

اته اويايمه ماده :

(۱) له سنګ کنې څخه د ګټې اخستنې د جوازليک يا اجازه ليک غوښتنليک ورکوونکی مکلف دی د ژوند چاپېريا ل له موضوعګانو سره د چلند ډول د مطروحه فعاليتونو په هکله د ژوند چاپېريا ل د ادارې له پلان سره يو ځای ترتيب او د ژوند

حفاظت محيط زيست در مدت بهره برداری

مادهٔ هفتاد وهشتم :

(۱) درخواست کنندهٔ جوازنامه يا اجازه نامهٔ بهره برداری از سنگ کنه مکلف است طرز برخورد با موضوعات محيط زيست را توام با پلان منجمنت محيط زيست در مورد فعاليت های مطروحه ترتيب و بعد از تائيد

چاپېريال ساتنې د ديپارتمنت له تائيد وروسته يې عملي کړي .

(۲) د فعاليت له پيل څخه د مخه د ژوند له چاپېريا ل سره د چلند د ډول توضيح د لاندې موضوعګانو د مطالعې او بررسۍ لرونکې ده :

۱- دنباتاتو ، حيواناتو، د ساحې دتوپوګرافۍ ، د هوا د کيفيت، د تر ځمکې لاندې، سطحي اوبو او د سيمې د ټولنيزو شرايطو د شرحې او پر هغو باندې د منرالي فعاليتونو دمستقيمو اوغير مستقيمو اغېزو په شمول طبيعت اود هغهٔ چاپېريا ل ايکوسيستم (Ecosystem).

۲-جمعي اوچاپېريالي اوټولنيزې مستقيمې اوغيرمستقيمې اغېزې اود وړانديز شوومنرالي فعاليتونو خطرونه،دهغوطبعي اړخونه (ايکوسيستم) چې له کمي او کيفي نظره د منرالي فعاليتونو له امله اغېزمن کېږي.

۳- د سيمې پر وګړو او زيانمنو ديپارتمنت حفاظت محيط زيست، عملی نمايد.

(۲) توضيح برخورد با محيط زيست قبل از آغاز فعاليت حاوی مطالعه و بررسی موضوعات ذيل می باشد:

۱- طبيعت و ماحول آن ايکوسيستم (Ecosystem) ، به شمول نباتات و حيوانات، توپوگرافی ساحه، کيفيت هوا، آب های زيرزمينی، سطحی و شرح شرايط اجتماعی منطقه و تأثيرات مستقيم و غير مستقيم فعاليت های منرالی بالای آنها.

۲- تأثيرات مستقيم وغير مستقيم جمعی و محيطی واجتماعی وخطرات فعاليت های منرالی پيشنهاد شده جنبه های طبيعی آن (ايکو سيستم)که در اثر فعاليت های منرالی از نظرکيفی وکمی متأثر می شوند.

۳- فعاليت های منرالی بالای

شوو ټولنو باندې منرالي فعاليتونه او موجود ټولنيز شرايط .

(۳) د ژوند د چاپېريا ل د ادارې پلان، د ژوند چاپېريال او د سيمې د وګړو د ساتنې پلان شوې لارې چارې ، د ټولنيزو ضررونو راټيټول، د فوري او بيړنيو اقداماتو پلان ، د ککړتيا لرې کول او يا راټيټول ، د کان يا سنګ کنې د تړلو پلان ، د منرالي فعاليتونو د درولو يا تعطيل په صورت کې د کار د ساحې بيا جوړونه او اعاده کول، د ساحې ساتنه ، بيا مېشتول او زيانمنو شوو محلي ټولنو ته د زيان جبران او د نوموړو اقداماتو په اغېزمنتوب پورې اړوند توضيحات احتواء کوي .

(۴) د ژوند له چاپېريا ل او د ژوند چاپېريا ل له پلان سره د چلند د ډول نورې موضوعګانې او شرايط د معدنکارۍ په مقرره

اهالی منطقه و اجتماعات متأثره و شرايط موجودۀ اجتماعی .

(۳) پلان ادارۀ محيط زيست، طرق و شيوه های پلان شدۀ حفاظت محيط زيست و اهالی منطقه، کاهش اضرار اجتماعی، پلان اقدامات فوری و عاجل، برطرف نمودن يا کاهش آلودگی، پلان بستن معدن و يا سنگ کنه، باز سازی و اعاده نمودن ساحۀ کار در صورت توقف و يا تعطيل فعاليت های منرالی ، محافظت، دوباره مسکون سازی ساحه و يا جبران خساره به اجتماعات متأثرۀ محلی و توضيحات متعلق به مؤثريت اقدامات متذکره را احتوا نمايد.

(۴) ساير موضوعات و شرايط طرز برخورد با محيط زيست و پلان ادارۀ محيط زيست در مقررۀ معدن کاری

کې توضیح کېږي .

(۵) د ژوند چاپېریال د ساتنې د پلان تطبیق له کان څخه د ګټې اخستنې د جواز لیک یا اجازه لیک عمده شرط جوړوي .

د ژوند چاپېریال ساتنې مالي تأمینات

نهه اویایمه ماده :

په هغو مالي تأمیناتو کې چې د منرالي حقوقو لرونکی یې د ژوند چاپېریال د ساتنې او ټولنیزو موضوعګانو په هکله د خپلو مکلفیتونو د ترسره کولو د تضمین لپاره ورکوي، د کار د ساحې د بیا جوړونې،بیا مېشتونې او اغېزمنو شوو ټولنو ته د زیان دجبرانولو مکلفیتونه شامل دي چې د تطبیق شرایط یې د معدنکارۍ په مقرره کې توضیح کېږي .

توضیح می گردد.

(۵) تطبیق پلان حفاظت از محیط زیست شرط عمدهٔ جواز نامه یا اجازه نامهٔ بهره برداری از معادن را تشکیل می دهد .

تأمینات مالی حفاظت محیط زیست

مادهٔ هفتاد ونهم :

تأمینات مالی را که دارندهٔ حقوق منرالی جهت تضمین انجام مکلفیت های خویش در مورد محافظت محیط زیست و موضوعات اجتماعی تأدیه می نماید، شامل مکلفیت های بازسازی ساحهٔ کار، مسکون سازی دوباره و جبران خساره به اجتماعات متأثره بوده که شرایط تطبیق آن در مقررهٔ معدن کاری توضیح می گردد.

له پېښو او خطرونو څخه خبرتيا

اتيايمه ماده :

د منرالي حقوقو لرونکی مکلف دی، مهمې او خطرناکې پېښې ، نېږدې پېښېدونکی ټکر او خطرونه چې د منرالي فعاليتونو له امله منځ ته راځي ، د کانونو د پلټنې ادارې ، د ژوند چاپېريا ل ساتنې ديپارتمنت او اړونـدو اداري مقامـاتو تـه خبر ورکړي .

اطلاع از حوادث وخطرات

مادهٔ هشتادم:

دارندهٔ حقوق منرالی مکلف است، حوادث مهم و خطرناک، تصادم و خطرات قريب الوقوع را که بالاثر فعاليت های منرالی به وجود می آيد، به ادارهٔ تفتيش معادن، ديپارتمنت حفاظت محيط زيست و مقامات اداری مربوطه اطلاع دهند.

اتم فصل

د تاريخي او فرهنګي آثارو ساتنه

فصل هشتم

محافظت آثار تاريخی و فرهنگی

د تاريخي او فرهنګي آثارو خبرتيا

يواتيايمه ماده :

(۱) د منرالي حقوقو لرونکی مکلف دی د منرالي فعاليتونو په بهير کې د تاريخي او فرهنګي آثارو د نښو نښانو يا کشف د موندلو په ترڅ کې

اطلاع آثار تاريخی و فرهنگی

مادهٔ هشتاد ويکم:

(۱) دارندهٔ حقوق منرالی مکلف است حين دريافت نشانه ها و علايم يا کشف آثار تاريخی و فرهنگی در جريان فعاليت های

موضوع دکانونو دپلټنې او د اطلاعاتو ، فرهنګ او توریزم وزارت د تاریخي او فرهنګي آثارو د ساتنې ادارو ته ډېر ژر خبر ورکړي .

(۲) فوسیلونه، نادره منرالونه او د تاریخي او فرهنګي آثارو په لست کې شامل نور شیان هم د تاریخي او فرهنګي آثارو د عناصروله جملې څخه ګڼل کېږي .

(۳)دمنرالي حقوقو لرونکی نشي کولای د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي عناصر ولېږدوي. خو کولای شي هغه له دولت څخه په استازیتوب د دولتي اړوندوادارو لخواتر لېږدولو پورې خوندي کړي او ویې ساتي.

(۴) په هغهٔ صورت کې چې د دې مادې په (۳) فقره کې درج شوي عناصر د دولتي اړوندو ادارو لخوا د خبرتیا له نېټې څخه د شپېتو ورځو مودې په ترڅ کې ونه لېږدول شي، منرالی موضوع را به ادارات تفتیش معادن و حفظ ترمیم آبدات تاریخی وزارت اطلاعات، فرهنگ و توریزم به اسرع وقت اطلاع دهد.

(۲) فوسیل ها، منرا ل های نادره و سایر اشیاء شامل لست آثار تاریخی وفرهنگی نیز از جملهٔ عناصر آثار تاریخی و فرهنگی بشمار میرود.

(۳) دارندهٔ حقوق منرالی نمی تواند عناصر مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده را انتقا ل دهد. اما می تواند آنها را به نمایندگی از دولت الی انتقا ل از طرف ادارات مربوط دولتی حفاظت و نگهداری نماید.

(۴) درصورتی که عناصر مندرج فقرهٔ (۳) این ماده توسط ادارات مربوط دولتی در خلا ل مدت شصت روز از تاریخ اطلاع انتقا ل داده نشود،

د هغو د وروستي خونـديتوب او ساتنې مستقيم لګښتونه د دولتـي اړونـدې ادارې لخـوا ورکـول کېږي.

مـصارف مـستقيم بعـدی حفاظـت و نگهـداری آنهـا از طـرف ادارۀ مربـوط دولتـی پرداخته می شود .

نهم فصل

دماليات ، محصول او ګمرکي عوارضو او منرالي رويالیتيو ورکړه

فصل نهم

تأديه ماليات، محصول وعوارض گمرکی و رويالتی های منرالی

ماليه ورکوونکي

دوه اتيايمه ماده :

دمنرالي حقـوقو لرونـکي او د هغو اړوند قراردادیان مکلـف دي ماليـات، محـصول او ګمرکـي عوارض، منرالي رويالیتی او نـور ماليات د دې قانون او اړوندو نافذو قوانينو د حکمونو مطابق ورکړي .

ماليه دهندگان

مادۀ هشتاد ودوم:

دارندگان حقوق منرالی وقراردادی هـای مربـوط آن مکلـف انـد ماليات، محـصولات، عـوارض گمرکی، رويالتی هـای منرالـی وساير ماليات را مطابق احکام اين قانون وقوانين نافذۀ مربوط بپردازند.

د ماليې په ورکولو او ګمرکـي محصولاتو کې شامل منرالـي فعاليتونه

دري اتيايمه ماده :

(۱) د منرالي حقوقو لرونکـی او اړوند قراردادیان چې په افغانـستان

فعاليت های منرالـی شـامل ماليـه دهـی و محـصولات گمرکی

مادۀ هشتاد و سوم :

(۱) دارنـدۀ حقـوق منرالـی و قراردادی های مربـوط کـه در

کې منرالي فعالیتونه سرته رسوي ، دنافذو مالیاتي او ګمرکي قوانینو د حکمونو تابع دي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول اټکل شوي وي .

(۲) د منرالي حقوقو لرونکی مکلف دی خپل بیلانس پرعایداتو باندې دمالیاتو د قانون او نورو نافذو اړوندو قوانینودحکمونو مطابق دنړیوالې حسابداری (I.A.S) له ستندرد سره په مطابقت کې چې وخت په وخت د نړیوالې حسابداری د ستندرد د بورد لخوا اعلامېږي ، وړاندې کړي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول اټکل شوي وي .

د مالیاتو ټولول

څلوراتیایمه ماده :

(۱) د مالیې وزارت یوازنۍ واکمنه مرجع ده چې پرعایداتو باندې دمالیاتو او ګمرکونو د قوانینو او

افغانستان فعالیتهای منرالی را انجام میدهند، تابع احکام قوانین مالیاتی و گمرکی نافذ می باشند، مگر اینکه در این قانون طور دیگری پیشبینی گردیده باشد.

(۲) دارندهٔ حقوق منرالی مکلف است، بیلانس خویش را طبق احکام قانون مالیات بر عایدات و سایر قوانین نافذهٔ مربوط در مطابقت به ستندرد حسابداری بین المللی(I.A.S)که وقتاً فوقتاً از طرف بورد محاسبات ستندرد بین المللی اعلام می گردد، ارایه نماید، مگر اینکه در این قانون طور دیگری پیشبینی گردیده باشد.

جمع آوری مالیات

مادهٔ هشتاد و چهارم:

(۱) وزارت مالیه یگانه مرجع با صلاحیتی است که طبق احکام قوانین مالیات بر عایدات ، گمرکات و مقررات مربوط

د هغـــو د اړونـــدو مقرراتـــو د حکمونو مطابق مالیات ، محصول او ګمرکـــي عـــوارض ټولـــوي .

(۲) د کانونو وزارت هغه واکمنـــه مرجع ده چې منرالي رویـــالیتي، د دې قانون د حکمونو مطابق راټولوي او د دولت د وارداتو په حساب کې یې تحویلوي.

د مالیې وزارت واک

پنځه اتیایمه ماده :

دمالیې وزارت کولای شي د اړوند قـــانون د حـــکمونو مـــطابق دمنـــرالونوپه برخه کې د خصوصي پانګې اچونې د هڅونې په منظـــور دمنرالي حقوقو دلرونکي د ځانګړو احوالو له په پام کې نیولو سره پـــه مالیاتو،محـــصولاتو او ګمرکـــي عوارضو کې یوه یا څـــو لانـــدې اسانتیاوې حکومت تـــه وړانـــدیز کړي :

۱- راتلونکو مالي کلونـــو تـــه د مالیاتو د ورکړې ځنډول .

آن، مالیات، محصولات و عوارض گمرکـــــی را جمـــــع آوری می نماید.

(۲) وزارت معـــــادن مرجـــــع با صلاحیتی است کـــه رویـــالتی منرالی را طبق احکام این قـــانون جمع آوری و به حـــساب واردات دولت تحویل می نماید.

صلاحیت وزارت مالیه

مادۀ هشتاد و پنجم:

وزارت مالیـــــه مـــــی توانـــــد به منظور تشویق سرمایه گـــذاری خـــصوصی در بخـــش منرالهـــا طـــبق احکـــام قـــانون مربـــوط یک یا بیشتر از چنـــد تـــسهیلات ذیل را در مالیات، محـــصولات و عـــوارض گمرکـــی بانظرداشـــت احوال خـــاص دارنـــدۀ حقـــوق منرالی بـــه حکومـــت پیـــشنهاد نماید:

۱- تعویق پرداخت مالیات به سال های مالی آینده.

۲- راتلونکو مالي کلونـــو تـــه د ملکیتونو د استهلاک د وضع کولو ځنډول .

۳- د نصب شوو وســایلو او تجهیزاتــو د تسریع شوي استهلاک د وضع کولو ځنډول اوپه راتلونکو مالي کلونوکې د هغو تطبیقول.

۴- د منرالي ، اکتشافي او ګټــې اخستنې د حقوقــو د اســتهلاکي لګــښتونو د ورکــړې ځنــډول .

۵- پر تجهیزاتو ، ماشین آلاتــو او استعمال وړ نورو موادو باندې چې د منرالي موادو په اکتشافي چــارو کې پکار وړل کېږي یا د هغو لــه مشخصو کټګوریو څخــه اضــافي ارزښت، د ورته مالیاتو او ګمرکي عوارضو راټیټول .

٦- د ورکړې وړ رویالیتیو د ټولو یا یوې برخــې وضــع کــول او راتلونکو مالي کلونو تــه د هغــو ځنډول .

۷- د دې قانون په دوه اتیایمه ماده کې درج دمالیاتو ، محــصولاتو او

۲- تعویق وضع استهلاک ملکیت هــا بــه ســال هــای مــالی آینده.

۳-تعویق وضع استهلاک تــسریع شدهٔ وسایل و تجهیزات نصب شده وتطبیق آن در سال های مالی آینده.

۴- تعویــق پرداخــت مــصارف استهلاکی حقوق منرالی، اکتشافی و بهره برداری .

۵- تخفیــف مالیــات از ارزش اضافی، مالیات مشابه و عــوارض گمرکی بالای تجهیزات، ماشــین آلات و سایر اشیای مورد استعمال که در امور اکتشافی مواد منرالــی بکار میرود یــا کتگــوری هــای مشخص از آنها .

٦- وضع تمام یا قسمت از رویالتی هــــای قابــــل تأدیــــه و تعویق آن به ســال هــای مــالی آینده.

۷- ثابت نگهداشتن مالیات، محصولات و عوارض گمرکی طبق حکم مندرج مــادهٔ

ګمرکي عوارضو ثابت ساتل .

۸- د معدنکارۍ د قرار داد مغاير د مالياتو ، محصولاتو او ګمرکي عوارضو راتيټول .

۹- د منرالي ورکړې وړ سوداګريزو مالياتو قسمي معافيت .

د مالياتو د ثبات موده

شپږ اتيايمه ماده :

د کانونو وزارت کولای شي د مالیې وزارت په موافقه د منرالونو په برخه کې د خصوصي پانګو اچونو د ډاډ او زيات باور د جلبولو په منظور لاندې اسانتياوې هم حکومت ته وړاندیز کړي :

۱- د احوالو مطابق تر پنځو کلونو پورې پدې قانون کې د درج اجازه ليک لرونکي لپاره دماليات ، منرالي رويالیتيو او ګمرکي عوارضو ثبات .

۲- د احوالو مطابق تر اتو کلونو پورې پدې قانون کې د درج اجازه

هشتاد و دوم اين قانون .

۸- تخفيف ماليات، محصولات و عوارض گمرکی مغاير قرارداد معدن کاری .

۹- معافيت قسمی يا کلی ماليات تجارتی قابل تاديهٔ منرالها .

مدت ثبات ماليات

مادهٔ هشتاد وششم:

وزارت معادن می تواند به موافقهٔ وزارت ماليه به منظور جلب اطمينان و اعتماد بيشتر سرمايه گذاری های خصوصی در بخش منرا ل ها تسهيلات ذيل را نيز به حکومت پيشنهاد نمايد:

۱- ثبات ماليات و رويالتی منرالی و عوارض گمرکی برای دارندهٔ اجازه نامهٔ مندرج اين قانون حسب احوا ل الی پنج سال.

۲- ثبات ماليات و رويالتی برای دارندهٔ جواز نامهٔ مندرج

لیک لرونکي لپـاره د مالیـاتو او رویالیتي ثبات .

منرالي رویالیتي

اووه اتیایمه ماده :

(۱) له سنګ کنـې ، د کـاني او حرفه یي موادو له پاتې شونو څخه د ګټې اخستنې د جواز لیک او د ګټې اخستنې د اجازه لیکونو لرونکـي مکلف دي ، د اسـتخراج شـوو منرالي موادو یا نورو ګټه اخـستل شـوو مـوادو پـه اړه رویـالیتي ورکړي.درویالیتي مقدار یـا نـرخ دزیرمـو دتخنیکـي ځانګړتیـاو، بنسټیزو تأسیساتو، اقتصادي شرایطو او نورو حالاتو له په پام کې نیولـو سره د کانونو وزارت په وړانـدیزد وزیرانو د کمېسیون لخـوا ټاکـل کېږي او تصویبېږي.

د ډبرو د اکتشافي جواز لیک یا د اکتشاف د اجازه لیک لرونکي یـا هر بل شخص چې له منرالي موادو څخه ګټه اخستنه کوي ، د هغـو

این قانون حـسب احـوا ل الـی هشت سال.

رویالیتی های منرالی

مادۀ هشتاد و هفتم:

(۱) دارندگان جوازنامـۀ بهـره برداری واجازه نامه هـای بهـره برداری ازسنگ کنه، بقایای مـواد معدنی وحرفه یی مکلـف انـد، رویالتی منرالی در رابطه به مـواد منرالی استخراج شده یا سایر مواد بهره برداری شده را تأدیه نمایند. مقدار یا نرخ رویالتی بانظرداشـت مشخـصات تخنیکـی ذخـایر تأسیسات زیربنای شرایط اقتصادی و سـایر حـالات بـه اسـاس پیشنهاد وزارت معـادن ازطـرف کمیـسیون وزراء تعیـین وتصویب می گردد.

دارنـدگان جوازنامـۀ اکتـشافی یا اجازه نامـۀ اکتـشافی سـنگ یـا هـر شـخص دیگریکـه مواد منرالـی را بهـره بـرداری

موادو د ټاکلې رویالیتی په ورکولو مکلف دي چې استخراج شوي ، پلورل شوي ، لېږدول شوي یا په بل ډول تر ګټې اخستنې لاندې نیول شوي وي .

(۲) د منرالي حقوقو لرونکی د هغو منرالي حقوقو د سوداګریز تولید له نېټې څخه د منرالي رویالتی په ورکولو مکلف دی چې استخراج او ګټه ورڅخه اخستل شوې وي ، خو دا چې په قرارداد کې بل ډول اټکل شوي وي .

(۳) د منرالي رویالیتی عواید د دولت د وارداتو حساب ته ورکول کېږي. د منرالي رویالیتیو خصوصیات ، ټاکل او محاسبه ، د ورکړې وخت او ځای یې د معدنکارۍ په مقرره کې توضیح کېږي، خو دا چې د معدنکارۍ په قرارداد کې بل ډول اټکل شوي وي .

می نماید، مکلف به پرداخت رویالتی معینهٔ موادی می باشد که استخراج ، فروش ، انتقال یا به نحوی دیگری مورد استفاده قرار گرفته باشد.

(۲) دارندهٔ حقوق منرالی به پرداخت رویالتی منرالی از تاریخ تولید تجارتی حقوق منرالی مکلف می باشد که استخراج و بهره برداری گردیده است، مگر اینکه در قرارداد طور دیگر ذکر شده باشد.

(۳) عواید رویالتی منرالی به حساب واردات دولت پرداخته می شود .خصوصیات تعیین ومحاسبهٔ رویالتی های منرالی، زمان و محل تأدیه آن در مقررهٔ معدن کاری توضیح می گردد، مگر اینکه در قرارداد معدن کاری طور دیگر ذکر شده باشد.

(۴) د کانونو او مـــالیې وزارتونـــه کولای شي د منرالـــي حقوقـــو د لرونکـــي فعالیتونـــه ، دفترونـــه اوثبت شـــوي ســـندونه کنتـــرول او وپلټي .

(۵) د منرالي حقوقو لرونکی مکلف دی د تولید او ګټې ربعوار رپوټونه او نور مـــالي معلومـــات چـــې د معدنکاری په مقرره کې توضـــیح شوي دي ، د کانونو د پلټنې ادارې ته وړاندې کړي .

لسم فصل

له پانګې اچونې څخه ملاتړ

اسعار

اته اتیایمه ماده :

د منرالي حقوقو لرونکی او د هـــغو د دوه یم لاس قراردادیان د هېواد د بانکي تقنیني سندونو پـــه تطبیـــق مکلف دي او دمالیـــاتو ، د مـــالي وجایبو د تعمیل او د دولت د نورو غوښتنو د ورکړې په صورت کـــې کولای شي لاندې فعالیتونه ســـرته

(۴) وزارت هـــــای معـــــادن و مالیه می توانند فعالیتها، دفاتر و اســـناد ثبـــت شـــدهٔ دارنـــده حقـــوق منرالـــی را کنتـــرول و تفتیش نمایند.

(۵) دارندهٔ حقوق منرالی مکلـــف است راپورهای ربعـــوار تولیـــد و منفعت و سایر معلومات مالی را که در مقررهٔ معدن کاری توضیـــــح گردیـــــده، بـــــه ادارهٔ تفتـــــیش معادن ارایهٔ نماید.

فصل دهم

حمایت از سرمایه گذاری

اسعار

مادهٔ هشتاد وهشتم:

دارندهٔ حقوق مـــنرالی و قراردادی های دست دوم آنها مکلـــف بـــه تطبیق اسناد تقنینی بانکی کـــشور بوده و در صورت تأدیه مالیـــات، تعمیل وجایـــب مـــالی و ســـایر مطالبـــات دولـــت، مـــی تواننـــد فعالیـــــت هـــــای ذیـــــل را

ورسوي :

۱- د منرالي فعاليتونو د اجراء په منظور د اسعارو واردول .

۲- دمنرالي فعاليتونو د تمويل ، د پورونو د ورکولو او د منرالي فعاليتونو د اړينو ماشين آلاتو او تجهيزاتو د برابروونکو د پيسو د ورکولو لپاره له هېواد څخه بهر ته د اسعارو لېږدول .

۳- ونډه والو ته په بهر کې د ونډو د ګټې د اسعارو اوله منرالي فعاليتونو څخه رامنځته شوونورو ګټودورکولو لپاره داسعارو لېږدول.

۴- د هغو بهرنيو پانګو د اسعارو لېږدول چې په منرالي چارو کې پانګه اچول شوې وي.

۵- د هغو شتمنيو او مايملک د اسعاري پيسو لېږدول چې د قراردادي د شتمنيو له پلورنې څخه رامنځته شوي يا د اړوندې بهرنۍ پانګې اچونې د زيان له جبران څخه لاس ته راغلې وي .

انجام دهند :

۱- ورود اسعار به منظور اجرای فعاليت های منرالی.

۲- انتقال اسعار به خارج کشور برای تأديه قروض جهت تمويل فعاليت های منرالی و تأديه پول تهيه کنندگان، ماشين آلات و تجهيزات ضروری فعاليتهای منرالی.

۳- انتقال اسعار به سهم داران درخارج، برای پرداخت مفاد سهام و ساير منفعت های ناشی از فعاليت های منرالی.

۴- انتقال اسعار سرمايه های خارجی که در امور منرالی سرمايه گذاری شده باشد.

۵- انتقال پول اسعاری دارايی ها و مايملکی که ناشی از فروش دارايی های قراردادی يا جبران خسارۀ مربوط سرمايه گذاری خارجی بدست آمده باشد.

٦- د اسعارو د مارکیټ د نـــرخ مطابق ، د افغاني یا اسعاري پیـــسو ازادانه پیرودل .

٧- په افغانستان کې په افغاني یـــا اسعاري پیسو یا په دواړو د بـــانکي حساب لرل .

٨- د دافغانستان بانک د تقنینـــي سندونو مطابق له افغانستان څخـــه بهر په اســـعاري پیـــسو د بـــانکي حساب لرل .

د دولت تضمینونه

نهه اتیایمه ماده :

د منرالي حقوقـــو لرونکـــی د دې قانون ، د معدنکاری د مقـــررې او نورو تقنیني ســـندونو د حکمونـــو مطابق ، د دولت لخـــوا د لانـــدې تضمینونو لرونکی دی :

١- حسب الخـــواهش د اړونـــدو معاملواو شتمنیو ترتیبول اوتنظیمول.

٢- د منرالي فعالیتونو د پرمخبیولو لپاره د دوه یم لاس قراردادي او د اړتیا وړ پرســـونل اســـتخدامول.

٦- خریـــداری آزادانـــهٔ پـــول افغانی یا اســـعاری مطـــابق نـــرخ مارکیت اسعار.

٧- داشتن حساب بانکی به پـــول افغانی یا اسعاری و یا هـــر دو در افغانستان .

٨- داشتن حساب بانکی به اسعار در خـــــــارج افغانـــــــستان مطابق اسناد تقنینی د د افغانـــستان بانک.

تضمینات دولت

مادهٔ هشتاد ونهم:

دارندهٔ حقوق منرالی طبق احکـــام این قانون، مقررهٔ معدن کـــاری و ســـایر اســـناد تقنینـــی ازطـــرف دولـــــت دارای تـــــضمینات ذیل می باشد:

١- ترتیـــب و تنظـــیم دارایـــی و معاملات مربوط حسب خواهش.

٢- استخدام قرار دادی دست دوم و پرسونل مورد نیاز بخاطر پیشبرد فعالیتهـــــــای منرالـــــــی.

(د استخدام د لومړيتوب حق هغهٔ شمېر افغاني اتباعو ته ورکول کېږي چې د تحصيل او تجربې له نظره معادل وي) .

۳- د قانون د حکمونو په حدودو کې دمنرالي حقوقو د اړوندې ساحې دننه اوبو او خامو موادو ته لاس رسي .

۴- د قانون د حکمونو مطابق د منرالي حقوقو لرونکو کارکوونکو او د دوه يم لاس قراردادي کارکوونکو ته د هېواد په قلمرو کې دننه د سير او سفر آزادي .

۵- د خدماتي مالونو او لوازمو د واردولو آزادي چې د منرالي فعاليتونو د سرته رسولو لپاره اړين وي. (د موادو ، مالونو او خدماتي وسايلو په برابرولو کې افغاني اتباعو ته د لومړيتوب حق ورکول کېږي پدې شرط چې له کمي ، کيفي ، دبيې او تسليمولو د وخت له نظره له بهرنيو

(حق اولیت استخدام برای آنعده اتباع افغانی داده می شود که از نظر تحصیل و تجربه معادل باشند).

۳- دسترسی به آب و مواد خام در داخل ساحهٔ مربوط به حقوق منرالی در حدود احکام قانون.

۴- آزادی سیر و سفر در داخل قلمرو کشور برای کارکنان دارندهٔ حقوق منرالی و کارکنان قراردادی دست دوم طبق احکام قانون.

۵- آزادی توریدامو ال و لوازم خدماتی که برای انجام فعالیتهای منرالی ضرور باشد. (در تهیهٔ مواد، امو ال و وسایل خدماتی به اتباع افغانی حق اولیت داده می شود، مشروط بر اینکه از نظر کمی و کیفی قیمت و زمان تسلیم دهی با امو ال خارجی

مـــالونو ســـره معـــادل وي) .

٦- د دې قانون او د ګمرکونو د قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره په داخلي مـــارکېټونو کـــې د تولیـــداتو د خـــرڅلاو او بهرنیـــو مارکېټونو ته د خرڅلاو لپاره د هغو د صادرولو آزادي .

۷- د اړوندو قوانینو د حکمونو له په پام کې نیولو ســـره د منرالـــي حقوقو لرونکي او د هغهٔ د دوه یم لاس قـــــراردادي بهرنیـــــو کـــــارکوونکو تـــــه د کـــــار ســـاحو تـــه د تـــګ را تـــګ پـــه منظـــور د لازمـــو ســـندونو د ترلاســـه کولـــو لپـــاره د اسانتیاوو برابرول.

د زیان جبران

نوي یمه ماده :

دولت نشي کولای استخراج شوي منرالي مواد ، ملکیت او مالونه چې د منرالي حقوقو د لرونکي په واسطه دمنرالي فعالیتونو لپاره په کار وړل

معادل باشد).

٦- آزادی فـــروش تولیـــدات در مارکیت های داخلی و صـــدور آن جهت فروش به مارکیـــت هـــای خـــارجی بـــا رعایـــت احکـــام ایـــــن قـــــانون و قـــــانون گمرکات.

۷- فراهم ساختن تسهیلات جهت بدســـــت آوردن اســـــناد لازم بـــــرای کارمنـــــدان خـــــارجی دارنـــــدهٔ حقـــــوق منرالـــــی و قـــــراردادی دســـــت دوم آن هـــا بـــه منظـــور رفـــت و آمـــد بـــه ســـاحات کـــار بارعایـــت احکـــام قـــوانین مربوطه.

جبران خساره

مادهٔ نودم:

دولت نمی تواند مـــواد منرالـــی استخراج شده، ملکیت و اموال را که توسط دارندهٔ حقوق منرالـــی جهت فعالیت های منرالـــی بکـــار

کېږي،په اجباري توګه تصرف کړي. هغه حالات چې عامه اړتيايې وغواړي له دې امر څخه مستثني دي، پدې صورت کې د زيان د جبران ورکړه او د عادلانه بيې ورکول د هېواد د نافذو قوانينو او نړيوالو معيارونو مطابق صورت مومي .

میرود، به صورت اجباری تصرف نماید. حالاتیکه ضرورت عامه ایجاب نماید از این امر مستثنی است، دراینصورت پرداخت جبران خساره و تأدیهٔ قیمت عادلانه مطابق قوانین نافذهٔ کشور و معیارهای بین المللی صورت می گیرد.

يوولسم فصل

د منرالي فعاليتونو په اړه د شخړو حل او فصل کول

د شخړو د حل او فصل مراجع

يو نوي يمه ماده :

د منرالي فعاليتونو په اړه شخړې د اداري مراجعو يا پدې قانون کې د درج حکميت يا قضايي مراجعو له لارې د هېواد د نافذو قوانينو مطابق حل او فصل کېږي. د شخړې اړخونه د اشخاصو او دولت په شمول د اعتراض حق لري .

فصل یازدهم

حل و فصل منازعات در رابطه به فعالیت های منرالی

مراجع حل وفصل منازعات

مادهٔ نود ویکم:

منازعات در رابطه به فعالیت های منرالی از طریق مراجع اداری یا حکمیت مندرج این قانون و یا مراجع قضایی طبق قوانین نافذهٔ کشور حل و فصل می گردد. طرفین منازعه به شمول اشخاص و دولت حق اعتراض را دارند.

اداري مراجعو تــه دشــخړې وړاندې کول

دوه نوي يمه ماده :

اداري مراجعــو تــه د شــخړې د وړاندې کولو ډول او د حل لارې يې د معدنکارۍ په مقــرره کــې توضيح کېږي . د ځمکې د مالک او د منرالي حقوقو د لرونکي يــاد منرالي حقوقو د لرونکو تر مــنځ د شــخړو د حــل او فــصل ډول د معــدنکارۍ پــه مقــرره کــې مشخصېږي .

د حکميت (داورۍ) مراجعو ته د قضيې وړاندې کول

دري نوي يمه ماده :

د منرالي حقوقو پــه اړه دمنرالــي حقوقو د لرونکي او دولت او يا د منرالي حقوقو د لرونکــي او بــل شخص تر منځ د شخړې د راپيــدا کېدو په صورت کې شــخړه پــه لاندې توګه حل او فصل کېږي :

۱- د اړخونو د موافقه ليــک پــر

ارايــهٔ منازعــه بــه مراجــع اداری

مادهٔ نود ودوم :

طرز ارايهٔ منازعه به مراجع اداری و طرق حل آن در مقررهٔ معدن کاری توضيح می گردد . طــرز حــل و فصل منازعات ميان مالک زمــين و دارنــدهٔ حقــوق منرالــی يــا ميــان دارنــدگان حقــوق منرالــی در مقــررهٔ معــدن کــاری مــشخص می گردد.

ارايهٔ قضيه به مراجع حکميــت (داوری)

مادهٔ نود و سوم :

در صورت بروز منازعه ميان دارندهٔ حقوق منرالــی و دولــت و يــا ميان دارندهٔ حقــوق منرالــی بــا شخص ديگر در رابطه به حقــوق منرالــی، منازعــه طــور ذيــل حل و فصل می گردد:

۱- حــل و فــصل منازعــه

بنسټ د اداري مراجعو یا حکمیت له لارې دشخړې حل اوفصل کول.

۲- داړخونو دموافقه لیک پر بنسټ له افغانستان پرته د بل هېواد د قضایي قوانینو دحکمونو دتطبیق له لارې .

۳- د اړخونو د موافقه لیک پر بنسټ له افغانستان څخه بهر د پانګه اچونې د کړکېچونو دحلولو دنړیوا ل مرکز (ICSID) د حکمیت له لارې او دهغې د نه منلو په صورت کې دنړیوالې سوداګرۍ دقانون لپاره دملګرو ملتونو د کمېسیون (UNCITARL RULES) د حکمیت له لارې.

قضایي مراجعو ته د شخړې وړاندې کول

څلورنوي یمه ماده :

د شخړې اړخونه کولای شي ددې قانون په نوي یمه او دوه نوي یمه مادو کې په درج شوو اجراآتو د نه قناعت په صورت کې، شخړه قضایي مراجعو ته وړاندې کړي.قضایي مراجع د مدني ، طبق موافقتنامهٔ طرفین از طریق مراجع اداری و یا حکمیت.

۲-به اساس موافقتنامهٔ طرفین از طریق تطبیق احکام قوانین قضایی کشور دیگری غیر از افغانستان .

۳- به اساس موافقتنامهٔ طرفین در خارج از افغانستان از طریق حکمیت مرکز بین المللی حل اختلافات سرمایه گذاری (ICSID) و درصورت عدم پذیرش توسط حکمیت کمیسیون سازمان ملل متحد برای قانون تجارت بین المللی (UNCITARL RULES).

ارایهٔ منازعه به مراجع قضایی

مادهٔ نود و چهارم:

طرفین منازعه می توانند درصورت عدم قناعت، به اجراآت مندرج مواد نودم و نود ودوم این قانون منازعه را به مراجع قضایی ارایه نمایند. مراجع قضایی

جزايي قوانينو او اړوندو قوانينو د حکمونو له په پام کې نيولو سره د هغې په حل او فصل لاس پورې کوي .

له دولت څخه استازيتوب

پنځه نوي يمه ماده :

که چېرې دولت د منرالي حقوقو په قضيو کې دشخړې لوری واقع شي، د کانونو وزارت د هېواد په دننه يا بهر کې په اداري ، دحکميت يا قضايي مجلسونو کې له دولت څخه نمايندګي کوي.

هر ډول پاڼې او سندونه چې په متنازع فيه قضيې پورې اړه پيداکوي، د کانونو وزارت مقام ته وړاندې کېږي .

دوولسم فصل

متفرقه حکمونه

په مکلفيتونو کې شفافيت

شپږ نوي يمه ماده :

(۱) شخص نشي کولای په مستقيمه

بانظرداشت احکام قوانين مدنی، جزايی و قوانين نافذهٔ مربوط در حل و فصل آن اقدام می نمايند.

نمايندگی از دولت

مادهٔ نود و پنجم :

هرگاه دولت در قضايای حقوق منرالی طرف منازعه قرار گيرد، وزارت معادن حين حل و فصل آن در مجالس اداری،حکميت يا قضايی در داخل يا خارج کشور از دولت نمايندگی می نمايد.

هرنوع اوراق و اسناديکه به قضيه متنازع فيه ارتباط می گيرد به مقام وزارت معادن ارايهٔ می گردد.

فصل دوازدهم

احکام متفرقه

شفافيت درمکلفيت ها

مادهٔ نود وششم:

(۱) شخص نمی تواند به صورت

یا غیر مستقیمه توګــه د منرالــي حقوقو د ورکولو او یا هر هغهٔ کار د اجراء په وخت چې په هغو پورې اړه ومومي، کارکوونکو، مؤظفینو او نورو دولتي نمایندګیو او د هغو د کورنۍ غړو ته تحفه ، بخشش ، یا مرسته یا په بل هر عنوان چې وي، ورکړي .

(۲) د کانونو وزارت او اړونــدې څــانګې یــې د منرالــي حقوقــو غوښتنلیک د رد ، نوي کولو ، بېرته اخستلو ، درولــو (توقــف) او فسخ مــوارد ، د دې قــانون او د معدنکارۍ د مقــررې د حکمونــو مطــابق پــه هــر اړخیــز ډول ارزوي او خپــل تــصمیم پــه لیکلــې توګــه نیــسي . دغــه تصمیم د اعتراض وړ دی .

(۳) د کانونو وزارت مکلف دی له منرالي فعالیتونو څخه راټول شــوي عواید او د دولت مستقیمې او غیر مــستقیمې اقتــصادي ګټــې پــه

مستقیم یا غیر مستقیم حین اجراء یا اعطای حقــوق منرالــی ویــا هرکاریکه به آن ارتباط گیرد برای کارکنان، موٴظفین و سایر نمایندگی های دولتی و اعضای فامیل آنهــا تحفه، بخشش یا مساعدت به هــر عنــوان دیگــری کــه باشــد تأدیهٔ نماید.

(۲) وزارت معــــادن و ادارات مربــــوط آن مــــوارد رد درخواست های تجدیــد حقــوق منرالی، واپس گیری، توقف و فسخ حقوق منرالی را طبق احکام ایــن قانون و مقررهٔ معدنکاری به طــور همه جانبه بررسی نموده،تــصمیم خویش را طــور کتبــی اتخــاذ می نمایــد. ایــن تــصمیم قابــل اعتراض می باشد.

(۳) وزارت معادن مکلف اســت عواید جمع آوری شده و منــافع اقتصادی مستقیم و غیر مــستقیم دولت را از فعالیت های منرالــی

استخراجي صنايعو کې په شفافيت سره د نړيوال معيار مطابق عملي کړي، لږ تر لږه په کال کې يو ځل ئې خپرې کړي .

(۴) د کانونو وزارت کولای شي د رپوټ د برابرولو لپاره د منرالي حقوقو له لرونکي ، مامورينو او نورو دولتي نمايندګيو څخه لږ تر لږه په کال کې يو ځل د توليد ، مالي چارو او هغو مستقيمو او غير مستقيمو ګټو په هکله چې له منرالي فعاليتونو څخه يې لاس ته راوړي او هغو مبالغو چې د منرالي فعاليتونو په اړه يې ورکړي دي ، معلومات وغواړي .

سرغړونې ، جريمې او د هغو تطبيقول

اووه نوي يمه ماده :

د دې قانون او د معدنکارۍ د مقررې له حکمونو څخه د سرغړونې په صورت کې ، د منرالي حقوقو لرونکي مکلف دي د

طبق معيار بين المللی در رابطه به شفافيت در صنايع استخراجی عملی نموده، حد اقل سال يک مرتبه آنرا نشر نمايد.

(۴) وزارت معادن می تواند جهت تهيهٔ گزارش از دارندهٔ حقوق منرالی، مامورين و ساير نمايندگی های دولتی حد اقل سال يک مرتبه در بارهٔ توليد، امور مالی و منافع مستقيم و غير مستقيمی که از فعاليت های منرالی بدست می آورند و مبالغيکه در رابطه به فعاليت های منرالی تأديه نموده اند، معلومات را مطالبه نمايد.

تخطی ها، جريمه ها و تطبيق آن

مادهٔ نود وهفتم:

(۱) در صورت تخطی از احکام اين قانون و مقررهٔ معدن کاری، دارندگان حقوق منرالی مکلف اند جبران خساره و جريمهٔ

معدنکاری په مقرره کې درج د زیان جبران او نقدي جریمه چې د مدني، تجارتي او جزایي قوانینو مطابق تنظیمېږي، ورکړي .

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د زیان د جبران او نقدي جریمې تطبیق ، د احوالو او شرایطو له په پام کې نیولو سره د کانونو د پلټنې د ادارې واک دی چې په یوازې یا یوځایي توګه عملي کېږي.

(۳) جنایي مجازات چې حبس ، د منرالي حقوقو له کار یا فعالیت څخه منع کول ، د منرالي حقوقو بېرته اخستل ، لغو کول یا د منرالي حقوقو د لرونکي د شتمنۍ مصادره پکې شامل دي، د واکمنو مراجعو لخوا د قانون د حکمونو مطابق تطبیقېږي .

د کادستري نقشو ساتل

اته نوي یمه ماده :

(۱) په منرالي حقوقو پورې اړوند سندونه د هغو د ثبت په شمول او د

نقدی مندرج مقررهٔ معدن کاری را که مطابق قوانین مدنی،تجارتی و جزایی تنظیم می گردد، بپردازند.

(۲) تطبیق جبران خساره و جریمهٔ نقدی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده بانظرداشت احوال و شرایط از صلاحیت ادارهٔ تفتیش معادن بوده که به صورت تنها یا یکجایی عملی می شود.

(۳) مجازات جنایی که شامل حبس،ممنوع کردن ازکار یا فعالیت حقوق منرالی، واپس گیری ولغو حقوق منرالی یا مصادرهٔ دارایی دارندهٔ حقوق منرالی بوده، از طرف مراجع ذیصلاح طبق احکام قانون تطبیق می گردد.

نگهداری نقشه های کادستری

مادهٔ نود وهشتم :

(۱) اسناد مربوط به حقوق منرالی به شمول ثبت آن و نقشه های

کادستري سروې نقشې چې د کانونو د پلټنې ، د جيالوجي سروې د ادارو يا د ژوند چاپېريال ساتنې د ادارې په واسطه منځته راغلي، د دې قانون او د معدنکارۍ د مقررې د حکمونو مطابق د عامه معلوماتو لپاره په نومړو ادارو کې ساتل کېږي .

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج معلومات او راټولول يې د پيسو د ورکړې په مقابل کې صورت مومي چې اندازه يې د معدنکارۍ په مقرره کې مشخصېږي .

محرميت

نهه نوي يمه ماده :

(۱) د منرالي حقوقو غوښتونکي او د هغو لرونکی کولای شي د هغو تخنيکي ، جيولوجيکي معلوماتو او د معدنکارۍ د اطلاعاتو په باره کې چې د کانونو وزارت ته يې وړاندې کړي دي د هغو د محرموالي

سروی کادستری که توسط ادارات تفتيش معادن، سروی جيالوجی يا ادارهٔ حفاظت محيط زيست به عمل آمده، طبق احکام اين قانون و مقررهٔ معدن کاری جهت معلومات عامه در ادارات مذکورنگهداری می گردد .

(۲) معلومات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده و جمع آوری آن درمقابل تأديه پول صورت گرفته که اندازهٔ آن در مقررهٔ معدن کاری مشخص می شود.

محرميت

مادهٔ نود ونهم:

(۱) درخواست کنندگان حقوق منرالی و دارندهٔ آن می توانند در بارهٔ معلومات تخنيکی ، جيولوجيکی و اطلاعات معدنکاری که به وزارت معادن ارايه نموده اند، تقاضای محرم

غوښتنه وکړي . دغه ډول معلومات او محرموالی يې د منرالي حقوقو د مودې تر پای ته رسېدو يا فسخ پورې اعتبار لري او وروسته عامه لاس رسی ته وړاندې کېدی شي .

(۲) د محرميت د دورې له تېرېدو دمخه، دغه ډول معلومات د تألیف، د عامه سندونو ، علمي اطلاعاتو او احصائيو د راټولولو لپاره ، د کانونو وزارت لخوا پداسې توګه کارول کېدای شي چې خاصې برخې يې افشاء نشي .

د معدنکارۍ د مقررې وضع کول

سلمه ماده :

(۱) د دې قانون د حکمونو د ښه تطبيق په منظور د کانونو وزارت د معدنکارۍ مقرره وضع کوي او پړاوونه يې تېروي.

(۲) هغه حکمونه او شرايط

بودن آنرا نمایند . این نوع معلومات و محرم بودن آن الی ختم یا فسخ مدت حقوق منرالی اعتبار داشته و بعداً بدسترس عامه گذاشته شده می تواند .

(۲) قبل از انقضای دورهٔ محرمیت، این نوع معلومات جهت تألیف، جمع آوری اسناد عامه، اطلاعات علمی و احصائیه از طرف وزارت معادن طوری بکار برده شده می تواند که بخش های خاص آن افشاء نگردد.

وضع مقررهٔ معدن کاری

مادهٔ صدم:

(۱) به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون وزارت معادن مقررهٔ معدن کاری را طرح و طی مراحل می نماید .

(۲) احکام و شرایطیکه در

چې پدې قانون کې ندی اټکل شوي، د معدنکارۍ په مقررې کې تنظیمېږي. د معدنکارۍ د مقررې حکمونه د دې قانون له حکمونو څخه مغایر کېدی نشي .

این قانون پیشبینی نگردیده ، در مقررهٔ معدن کاری تنظیم می گردد. احکام مقررهٔ معدن کاری مغایر با احکام این قانون بوده نمی تواند .

د نړیوالو کنوانسیونونو په پام کې نیول

یو سلو یوه ماده :

(۱) په هغهٔ صورت کې چې افغانستان داسې نړیواله معاهده چې په یو ډول نه یو ډول د کانونو له چارو سره اړه ولري، لاسلیک کړي چې د دې قانون له حکمونو سره مغایرت ولري ، د نړیوالې معاهدې حکمونه مرجح ګڼل کېږي.

(۲) که چېرې د چاپېریال ساتنې د ستندردونو او مکلفیتونو او ټولنیزو شرایطو په اړه د دې قانون د حکمونو اود هېواد نورو قوانینو تر منځ اختلاف را منځته شي، د خاصو

رعایت کنوانسیون های بین المللی

مادهٔ یکصد ویکم:

(۱) درصورتی که افغانستان معاهدهٔ بین المللی را امضا نموده باشد که به نحوی از انحأ به امور معادن مرتبط و با احکام این قانون مغایرت داشته باشد، احکام معاهدهٔ بین المللی مرجح دانسته می شود .

(۲) هرگاه در رابطه به ستندردها و مکلفیت های حفاظت محیط زیست و شرایط اجتماعی میان احکام این قانون و سایر قوانین کشورتنازع واقع شود، احکام

قوانینو حکمونه مرجح ګڼل کېږي .

دکادستري سروې دنقشې ترتیبول اودممنوعه ساحو تشخیصول

یو سلو دوه یمه ماده :

د کانونو وزارت مکلف دی د دې قانون د انفاذ له نېټې څخه د اتلسو میاشتو مودې په ترڅ کې د جیولوجیکي معلوماتو فهرست او د منرالونو د عنوانونو سندونه بشپړ کړي ، د کادستري سروې د نقشې د بشپړولو او د ثبت د هغه سیستم چې د کانونو د کادستر په اداره کې ساتل کېږي، د بشپړولو لپاره تخنیکي وړتیاوې برابرې او ممنوعه ساحې په نقشو کې په مناسب مقیاس سره مشخصې کړي .

په هغهٔ صورت کې چې عامه ګټې یې ایجاب کړي ، حکومت کولای شي دغه موده تر دریو کلونو پورې اوږده کړي .

موجوده منرالي فعالیتونه

قوانین خاص مرجح دانسته می شود.

ترتیب نقشهٔ سروی کادستری و تشخیص ساحات ممنوعه

مادهٔ یکصد ودوم:

وزارت معادن مکلف است از تاریخ انفاذ این قانون در خلا ل مدت هجده ماه فهرست معلومات جیولوجیکی و اسناد عناوین منرال ها را تکمیل نموده ، قابلیت های تخنیکی را جهت تکمیل نقشه سروی کادستری و سیستم ثبت که در ادارهٔ کادستر معادن نگهداری می شود، فراهم نموده، و ساحات ممنوعه را بالای نقشه با مقیاس مناسب مشخص سازد.

درصورتی که منافع عامه ایجاب کند، حکومت می تواند این مدت را الی سه سال تمدید نماید.

فعالیت های منرالی موجوده

يوسلو دري يمه ماده :

دکانونو وزارت مکلف دی ددې قانون د انفاذ له نېټې څخه د يوۀ کال په موده کې د منرالي فعاليتونو فهرست چې د دولت يا يې د اړوندو نمايندګيو په واسطه صورت مومي ، ترتيب او د موجوده منرالي فعاليتونو حقوق چې د دولت يا يې د استازو په واسطه د مخه عقد شوي دي، بشپړ کړي .

موجوده منرالي حقوق

يوسلوڅلورمه ماده :

(۱) هغه اشخاص چې د منرالي حقوقو او د منرالي فعاليتونو دسرته رسولو امتياز يې د مخه لاس ته راوړی، مکلف دي د دې قانون د انفاذ له نېټې څخه د اتلسو مياشتو په ترڅ کې خپل غوښتنليکونه پدې قانون کې د درج شوو شرايطو له په پام کې نيولو سره د بيا ثبت لپاره د کانونو د کادستر ادارې ته وړاندې کړي .

مادۀ يکصد و سوم :

وزارت معادن مکلف است از تاريخ انفاذ اين قانون طی مدت يکسال فهرست فعاليت های منرالی را که توسط دولت يا نمايندگی های مربوط آن صورت می گيرد و حقوق فعاليت های منرالی موجوده را که توسط دولت يا نمايندگان آن قبلاً عقد گرديده، تکميل نمايد.

حقوق منرالی موجوده

مادۀ يکصدو چهارم :

(۱) اشخاصی که امتياز حقوق منرالی و انجام فعاليت های منرالی را قبلاً بدست آورده، مکلف اند از تاريخ انفاذ اين قانون طی مدت هجده ماه درخواست های خويش را با نظرداشت شرايط مندرج اين قانون به ادارۀ کادستر معادن جهت ثبت مجدد ارايۀ نمايند.

په هغهٔ صورت کې چې غوښتنليک په نوموړې موده کــې د کــانونو دکادستر ادارې ته سپارل شوی وي نور اشخاص نشي کولای پدې برخه کې بل غوښتنليک وړاندې کړي ، خودا چې د پخواني امتياز د خاوند غوښتنليک د دې مادې په (۲) فقره کــې د درج شــوي کمېــسيون لخوا رد شي .

د ټاکلي ميعاد په پای کې هېڅ ډول غوښتنليک د بيا ثبت لپاره نه منــل کېږي . که چېرې د غوښتنليک په هکله اجراآتــو صــورت نــه وي موندلی، د ټاکلې مودې له تېرېــدو وروسته غوښتنليک لــه اعتبــاره لوېږي، لرونکی د زيان د ترلاســه کولو حق نه لري .

(۲) د مالياتو او منرالــي حقوقــو دمطالباتو او دمخه منرالي فعاليتونو د ستونزو د تثبيت، تأييد او حل او فصل لپاره يو کمېــسيون چــې د فعاليت د ساحې حدود يې د جــلا

درصورتی که درخواست طی مدت مذکور به ادارهٔ کادســتر معــادن سپرده شده باشد، سایر اشــخاص نمی توانند در زمینه درخواســت دیگری را ارایه نمایند، مگر اینکه درخواســت صــاحب امتیــاز قبلــی از طــرف کمیــسیون مندرج فقــرهٔ (۲) ایــن مــاده، رد گردد.

درختم میعاد معینــه هــیچ نــوع درخواست غرض ثبــت مجــدد پذیرفته نمی شود. هرگاه در مورد درخواست اجراآت صورت نگرفته باشد، بعد از انقضای مدت معینــه درخواست از اعتبار ساقط گردیده، دارنده حــق دریافــت خــساره را ندارد.

(۲) جهت تثبیت، تائیــد، حــل و فصل معضلات ، مالیات و مطالبات حقوق منرالــی و فعالیــت هــای منرالی قبلی، کمیسیونی که حدود ساحهٔ فعالیت آن طبق طرز العمــل

طرزالعمل مطابق مشخصېږي، په لاندې ترکيب سره جوړېږي:

۱- د کانونو وزير د رئيس په توګه .

۲- د ماليې وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۳- د اقتصاد وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۴- د سوداګرۍ او صنايعو وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۵- د اوبو او انرژۍ وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

٦- د ژوند چاپېريال ساتنې ملي ادارې رئيس د غړي په توګه .

۷- د رأيې د حق له درلودلو پرته د کانونو (منرالونو) د چارو رئيس د د غړي په توګه .

(۳) که چېرې هغه شخص چې د منرالي فعاليتونو په اړه د هغهٔ د مخنۍ غوښتنې ، د دې مادې په (۲)

جداګانه مشخص می شود، به ترکيب ذيل ايجاد می گردد :

۱- وزير معادن به حيث رئيس.

۲- نمايندهٔ باصلاحيت وزارت ماليه به حيث عضو .

۳- نمايندهٔ باصلاحيت وزارت اقتصاد به حيث عضو.

۴- نمايندهٔ باصلاحيت وزارت تجارت وصنايع به حيث عضو.

۵- نمايندهٔ باصلاحيت وزارت انرژی و آب به حيث عضو .

٦- رئيس ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست به حيث عضو .

۷- رئيس امور معادن (منرا ل ها) بدون داشتن حق رای به حيث عضو.

(۳) هرگاه شخصی که مطالبات قبلی وی در رابطه به فعاليت های منرالی از طرف کميسيون مندرج

فقره کې د درج شوې کمېسيون لخوا د اعتبار وړ ګڼل شوي وي ، د ادعا وړ منرالي حقوقو د غوښتنليک په اړه د لومړيتوب حق لري ، پدې شرط چې د دې قانون او د معدنکارۍ د مقررې د حکمونو له په پام کې نيولو سره نوموړی شخص خپل غوښتنليک د دغه منرالي حق د ترلاسه کولو لپاره د نوموړي کمېسيون په واسطه د غوښتنو او دهغو د ادعا د اعتبار لرلو د پېژندلو له نېټې څخه د نوي ورځو په موده کې وړاندې کړي .

فقرهٔ (۲) اين ماده قابل اعتبار شناخته شده باشد، در رابطه به درخواست حقوق منرالی مورد ادعا حق اوليت را دارد، مشروط بر اينکه با نظرداشت احکام اين قانون و مقررهٔ معدن کاری شخص مذکور درخواست خويش را برای حصول اين حق منرالی طی مدت نود روز از تاريخ با اعتبار شناختن مطالبات و ادعای آن، توسط کميسيون مذکور ارايهٔ نمايد .

که چېرې د نوو منرالي حقوقو امتياز چې د دې قانون د حکمونو مطابق صادر شوی دی ، د نوموړي کمېسيون لخوا بې اعتباره اعلام شي، نوي منرالي حقوق د اعتبار وړ دي او د مخکنۍ لرونکي

هرگاه امتياز حقوق منرالی جديد که طبق احکام اين قانون صادر شده، از طرف کميسيون مذکور بی اعتبار اعلام گردد، حقوق منرالی جديد قابل اعتبار بوده و ادعای دارندهٔ قبلی

ادعا د اورېدو وړ نده . پدې صورت کې د نوو منرالي حقوقو لرونکی د منرالي حقوقو د لومړي لرونکي د زيان د جبران په ورکولو مکلف دی .

قابل سمع نمی باشد. در این صورت دارندۀ حقوق منرالی جدید مکلف به تأدیۀ جبران خسارۀ دارندۀ حقوق منرالی اولی می باشد.

د قانون انفاذ

يوسلو پنځمه ماده :

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي . په نافذېدو سره يې د ۱۳۸۴/۵/۲۰ نېټې په (۸۵۹) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د افغانستان د معدني موادو قانون اونور مغاير حکمونه ئې لغو ګڼل کېږي .

انفاذ قانون

مادۀ يکصد وپنجم:

این قانون از تاریخ توشیح نافذ ودر جریدۀ رسمی نشر گردد. با انفاذ آن، قانون مواد معدنی افغانستان منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۸۵۹) مؤرخ ۱۳۸۴/۵/۲۰ و سایر احکام مغایر آن ملغی شمرده می شود.

اشتراک سالانه

در مرکز و ولایات : (۸۰۰) افغانی

برای مامورین دولت : با ۲۵ فیصد تخفیف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

خارج از کشور (۲۰۰) دالر امریکایی

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

OFFICIAL GAZETTE

Extraordinary Issue

- **Oil and Gas (Hydrocarbons) Law**
- **Mineral Law**

Date: ١th *FEBRUARY.* ٢٠٠٩

ISSUE NO :(٩٧٢)